# پښتو ژبلار

## د ښوونځي لپاره

ليکونکی: ډاکتر ماخان میږی شینواری

خپرونکی: Ketabton.com انجنير شمشاد زهير

کال : جون ۲۰۲۱ بون=چرمني

راته ګرانو ملګرو

هر يو اروا ښاد پوهاند باوري

اروابناد پوهندوی ډاکتر ګل حسن ولیزی

اروابناد پروفيسر ډاکتر نبی مصداق ته

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لوي ښښتن په نامه

## نيوليک

سريزه ۳
نوموېونه ۴
نومځانيوي ۵
کړنوېونه ۵
خوېوېونه ۷
اړيکوېوينه ۱۰
ادورب او ډولونه ۱۱
سرغونډالي او دولونه يې ۱۵
غونډالجوړونه ۲۱
يو نوم/ شينوم – يو نوموی - ۲۳
پرېديکات ( غونډالوينا) ۲۳
لاندې شيان شتون لري: ۲۳
اړيکويز شی ۲۳
غونډالجوړ ونې ۲۷
کړونی او پرېږ – يا نه کړونی (کېدونی؟)
۳۳ احالت ( ځنګه والي) ۳۳
سيده -، ناسيده شی ۳۶
ويی - يا لغات جوړونه ۳۷
حالت تکرار خو لوستل .. ۳۸
تړنوېونه ۳۹
بدلون په تړنوېونو ۱ کې ۴۲
سيده خبرې (ويناوی؟) ۴۳
خوېوېونه ۴۵
پوښتنغونډالي ۴۵
بڼه بدلول، اوړېدل، بل.. ۴۶
پيدابښت ۴۶
غونډاغړي ۴۷
وېين ويونه ۴۸
ويي جوړونه ،ويي پرېپوهېدنه ۴۸
غونډالشننه ۴۸
غونډالغړو ټاکنه ۴۸
سبجکت نوموېونه ۵۰
غونډالوينا ۵۰
اړيکويز شی ۵۲
دوربال ټاکنې ۵۲
اتريبوت د غونډالغړي.. ۵۳
تړنوی او ناسيده خبرې (وينا؟) ۵۴
ترانزيتيويتي ۵۵ ت. د
ښوونځي په ژبلار کې ۵۶
**رکتوس او اوبليکوس ۵۸**
پوښتنغِونډاله ۶۵
اېنکليتيکي نومځاينيوي: ۶۶
کاسوس رېکتوس او.. ۶۸
سيمانتيک ۶۹
پښتوته ناسم رانناسل.... ۶۹
ګرانو ژبپوهانو! ۷۴
يوه بله ستونځه: ۷۷
د علومو اکادمي ۷۸
نوې ميندنې ۷۹
د ولس ژبه، که ۸۷
د ډاکتر ... کتابونو ۹۰
د .... ليکنې او ژباړې ۹۱
د ... ژوند ته يوه لنډهکتنه ۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه:

ژبې وڅېړی – ژبلار

دا لیکنې زه د الملنې له لیکنو څخه رانیسم، نو تکیه به مې هم په الماني ژبلار وي. پښتو هم یوه اسانه ژبه نه ده، خو ګومان مې دی، چې که ژبلار ته یې یو څه کار په سمه توګه وشي، همدومره سم اندیزه هم ده او کېدی شي ژبلاریزو ستونځوبیو ته یې په سم اندیزه او پوهنیزه توګه لار پیدا شي. د یوې سمې لاربښوونې او چل ول سره کېدی شي د جملې یا غونډالې غړي وتاکل شي، ببلید – یا کومانځښنې به د کوچنیانو د لوبو کار وي.

ما غوښتل د ښونځي لپاره د پښتو ژبلار یوه ساده لیکنه وکړم او داسې لیکنې مې په الماني ادبیاتو ومیندلې، چې د هغې په مرسته مې دا کتاب ترتیب کړ.

زه دا لیکنه تاسو ته وړاندې کوم، په دې هیله چې د ګډکار سره به یې غښتلې کړو.

موږ کړی شو، چې یو ښه ګرامر په پښتو هم په ګډه سره ولیکلی - یا برابر کړی شو، چې مرسته سره وکړو او دا خو په دې اوس وخت کې کېدی شي. موږ سره د ن ج له لارې تړلي یو. ماته خو خپل دا لیکنه د الماني په مټه له الماني جوړه کړې او ستاسي وړاندیزونه هم په سترګو منم. ناسمونونه سمولی شو، که څه ورزیاتول غواړی، نو ماته یې وی نوم په انګرېزي یا الماني ولیکی، زه به هغه هم د الماني په مټه ورزیات کړم او له تاسو سره به یې ګډ کړم.

دې لیکنه کې بیابیا راوړنې شته. ما یې ترې تېرېدل ونه غوښتل یا نه غوښتلی شول.

دا د پښتو ګرامر په شوچه پښتو نه، خو په ورسره پوهوړ نابلده پښتو لیکل شوی.
پرېیوهېدل یې ساده، خو ورسره بلدتیای ستونځي رامنځ ته کوي.

که وواېو، چې لهدې ویې سره بلد یو،نو همدا دې پاتې شي، زه پهدې اند نه یم. موږ چې د کوم ویې لپاره انډول پښتو وي لرو، هغه به ما لیکلی وي. موږ چې په ژبه کې څه لرو، هغه باید په ځانګړې توګه پوهنه او بیا په پښتوپوهنه کې تل او پهاړیینه ډول وکاروو، که نه ورکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Nomen / Substantive نومونه یا نومویونه..

یادونه: که دا سوبستانتیو ته نوموینونه ووایو، دما په اند به موخه ور وي (ورانديزونه):

نومونه/ سوبستانتيو يا شينومونه ژوندي، شيان او کليمې په ګوته کوي.

روښانه يا ځرګند نومونه/ سوبستانتيو شينومونه شيان دي، چې سړی يې ګوري، لمس کوي يې او حس کوي يې. له دې امله ،،نوموييونه،،.

د بېلګې په توګه:مېز، پاڼه، غونډوسکه، پياله.

ذهني نومونه/ سوبستانتيو شيان دي، چې پرې فکر کيږي او احساس کوي يې

بېلګې: کار، تفريح، خوښي، زړه بدي

نومونه/سوبستانتيو يا شينومونه کومې پېژندنځښې لري؟

نومونه/سوبستانتيو ګڼونښې( تعداد ښې) لري:

يواځنی يا يوګونی (مفرد) بېلګه: ونه، ګلاب، بړستن.

ډېر يا ډېرګونی(جمع) لکه ونې، ګلابونه، بړستنې

نوم/ شينوم يا نوموينه په پښتو کې دوه نرښځيوالي يا نرښځيتوب دي، چې د پيداښت الې له لارې سره توپيريږي، داپه دې پرېپوهېدنه چې دا نومونه نارينه او ښځينه دي.

نر- ښځيوال يا نرښځېتوب د نارينه او ښځينه لپاره د ناټاکلو پېژند نځښو له لارې: يو، يوه، له يوه، له يوې، او ...........

نرښځيتوب په پښتو ژبه کې د ځنې تورو يا نوره هم ښه زيات يې د غږلرونکو تورو له لارې ځخه پېژندلکيږي.

دا دې په ګوته وي، چې ځوک يې د کوم توري له لارې نه شي ټاکلی. دا په دې پرېپوهېدنه چې دا ټاکل کيږي نه، دا همداسې له پيداښته دي، چې همدا يې ډېره غوره ده. زموږ ژبپوهان په دې هکله د پوره ناسمون سره مخامخ دي، لکه د ځ منځ ته راوړنه، چې ناسمه ده، دا په دې پرېپوهېدنه چې دوي د يوه غږلرونکي توري له لارې کړ يا کړنه او نوم غواړي وټاکي، نو داسې ژبنيزه لار نه شته. د تورو له لارې ن-ښ نه ټاکل کيږي.

کوم توري دي، چې دا يې له مخې پېژندل کيږي ( که ووايو، چې کوم تورې دي، چې دا ټاکي، ناسمه ده، دا په دې پرې پوهېدنه چې ټاکل کيږي نه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- دا نرښځيتوب کېدی شي، يواځې په يوګونبنه کره شي:

نارينه  په يوګونبنه: مېز/ په ډېرګونبنه: مېزونه

ښځينه په يوګونبنه: پياله/ ډېرګونبنه: پيالې.

-- ډېرګوني ( په نوميناتيو يا نوميز) د پيژندبخښي سره جوړېږي.

موږ په پښتو کې يواځې ناټاکلې پيژندنخښي لرو: يو مېز، يوه پياله

# Pronomen نومځاينيوي

**Pronomen** نومځاينيوي: زه ګورم، دما کتاب. دموږ موټر.زه، ته، هغه اونور
**Adjektiv** خويويونه ( د موږ د پښتو ادبياتو کې ورته ستايپننوم وايې، خو د ما په اند دا خوي نوم به يې موخور وي، چې خوي نوم هم دی، ځکه چې د يوه شي خوي ښايي):
ښکلې ونه، لټ سپی.
**Numerale** ګڼيز: دوه ( دوې) لارې،  شپږم ټولګی.

غواړو چې ګڼونه په ګڼوننخښو وليکو: ۲ لارې، ۶ – م ټولګی( ۶ ټولګی ناسم دئ).
-- ځنې نومونه/شينومونه د هغه د پسېسيلبې په مرسته پيژندلکيږي.

- والی، - توب، ......

کوچنيوالی، نارينتوب،

کليوال، کليواله، نرولي، ښخولي.............

**--**<u>Verben</u> **کړنويونه:**
**هغو ويی ته يو کړنوی وايي، چې څه کړل کيږي يا پيښيږي يا څه شی يا کيږي دئ**
-- کړنوی په ځانيزه بڼه
يوګڼ يا يوګونی: ۱ . کس: زه ځم. ۲ . کس: ته ځې. ۳ . کس: هغه ځي.
**Plural (Mehrzahl)** ډېرګڼی يا ډېرګونی: ۱ . کس. موږ ځو. ۲. کس: تاسو ځئ. ۳ . کس: هغه، هغوي ځي

يادونه: په پورته کې: ۱. او ۲. د لومړي او دويم په ځای ليکل کيږي. زيات وخت – لکه د مخه مې چې ګوته ورته ونيوله- ۱ –م، ۲-م ليکل کيږي.

**Hilfsverben** مرستندوي کړنويونه: يېدل يا يل، چې ماته سم برېښي، لرل، کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرستندوې کړنویونو په مرسته بېلابېل وختونه جوړیږي،
د بېلګې په توګه: موږ تللي یو، موږ تللي وو، موږ به لاړ شو.

کله کله دا د ادورب، نوم یا خویوی سره ځانله وي.
د بېلګې په توګه: هغه لاندې دی. زه وږی یم یا لوږه لرم. زه نېکمرغه یم.

مودال کړنویونه: باید، غوښتل، اجازه لرل یا – ورکول...
هغه یا که غواړئ دا تل د یوه کړنوي د اینفینیتیو ( بنسټبنه) سره په تړاو کې دي او د هغه سرچینه ییزه وینا بدلوي.
هغه کړی شي د بېلګې په توګه رابند کړي، یو څه هرومرو (مجبوریت) شي، یوه هیله یا غوښتنه(؟) ووایي( افاده کړي)، یو څه بېبندیزه یا خپلواک کړي.
بېلګه: هغه باید راشي، هغه دې بیده شي، زه کړی شم ( د چا ومخ ته ) ولولم.....

## ناتوانه کړنویونه:

دا هغه کړنویونه دي، چې بنسټ نه بدلوي.

بنسټبنه .......... ۱. بنسټ بنه ........ ۲ . بنسټبنه.......۳ . بنسټبنه (۱)

انځورول ....... زه انځوروم ...... ما انځور کړل.... ما انځور کړي وو

ویل ............ .. زه وایم.... ما وویل............. ما ویلي وو

توانمند یا غښتلي کړنویونه : هغه دي، چې بنسټ بدلوي.

بنسټبنه............. ۱ . بنسټبنه.... ۲. بنسټبنه...... ۳ . بنسټبنه (۱)

ځغاستل............زه ځغلم........ زه وځغاستم.... زه ځغاستی وم.

لمبل ............. زه لامبم........ ما ولمبل....... ما لمبلي

دایوه بنسټ بنه د بنسټکړنوي له امله ده او دا پسي بله تړې منځ ته راغلې بنسټبنه یا میراث دی. نه پوهېږم څه نوم ورکړم.

نالاریز ( نا منظم یا بې قاعدې یا بېلاریز) کړنویونه

بنسټبنه .......۱ . بنسټبنه..... ۲ . بنسټبنه..... ۳ . بنسټبنه

تلل ........ زه ځم، ..... ... زه لاړم...... زه تللی وم

اړینه یادونه: د دې کړنو سره د وخت له مخې د کړنویونو بنه بدلیږي او پرته له دې، ځانګړو ویونو سره نومځای نیوي هم خپله بنه بدلوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: هغه کړنویونه، چې کېدل کیږي او بل یا پرې کړوني ته اړ نه دي، په هغوي کې نومځای نیوي بڼه نه بدلوي.

بېلګه: زه ځم. زه لاړم. زه تللی وم.

دویم. هغه کړونویونه چې پرېکړونی لري.

بېلګه: زه خورم. ما وخوړه. ما خوړلې وه یا خوړلی وو. دلته یو څه شته، چې خوړل کیږي.

خویوی ( عربي صفت) <u>Adjektive</u>

خویوییونه او ډولونه یې:

-- خویوی یو څنګه والی یاحالت یا یو خوي په نخښه کوي،

په غونډاله کې دا سړی د لاندې پوښتنې په ځواب کې پیدا کوي یا میندي:

یو شی څنګه دئ؟

د بېلګې په توګه: رنګه، ښکلی،ارام، مړاوی، خپلواک...

ځنې ادجکتیو یا خویویونه د پسې سیلبې له لارې پېژندلکیږي( پسې تړلی**Suffix** ):
ناپای،-ور، -وړ – والی، - ځنی

-- ادجکتیو له دوه ادجکتیو یا له یوه نوم/شینوم او یوه ادجکتیو څخه جوړ دي:

دبېلګې په توګه: تیاره شین، غټستر، رنګارنګ...
-- د ادجکتیو یا خویویونو کارونه:

موټر ګړندی ځغلي. ( یېدل (د شته والي) په څېر پوره کونه، کېدل، پاتېدل(prädikativ).

ګړندی موټر. ( نوم /شینوم ته ورزیاتېدل(attributiv).

ګړندی ګټي. ( د خپلواک نوم / شینوم په څېر(substantiviert)

که یو ادجکتیو یا خوي وی له یوه نوم/شینوم څخه د مخه راشي باید بڼه بدل شي:

۱ - نومیز: کوښښي زدکونکی ځانګړی ستاېپل کیږي.

۲ - خاوندوالی: دا د کوښښي زدکونکي لاس ته راوړنه ده. ډلته ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - داتیو: ستایینه وکوښښي زدکونکي ته ده. یا له کوښښي زدکونکي څخه ستاینه کیږي. له کوښښي هلک سره ستایینه مل ده. له کوښښي هلک کره ځو او همداسې نور.

۴ -اکوزاتیو: ښونکي کوښښي زدکونکی ستایي

یادونه: موږ به پښتو حالتونه له څلورو زیات ولرو، چې هغه د خبرو دي او باید وڅیړل شي. ما په دې هکله لیکنې کړي، که درانه ژبپوهان غواړي مرسته وکړي، خو ترې منندوي به وم. (۱)

دا پورته لږ روښانه کوو: په الماني کې دا روښانه دي

و ۱ – ته: کوښښي. دلته زده کوونکی کوښښي دي، دا په دې پرېپوهېدنه، چې کړونی دی.

و ۲ – ته: دلته د ،، د ،، د واکوالي مورفیم ورزیاتیږي.

و ۳ – ته: د ،،و ،، له لارې بدلون دئ او همداسې له ،، له ،، سره.

دا د الماني دریم حالت موږ په پښتو کې لکه چې ډېر لرو. دې ته دې بیا ځانګړې پاملرنه وشي.

و ۴ – ته: دلته زدکونکی ناکړونی دئ او که پرېکړونی ور سره سم راځي، نو دا به یې نوره هم ښه روښانونه وي.

نورو او لا پسې روښانونو ته یې ګران لوستونکي سوچ کړی شي.

په نورو ژبو کې زیات ادجکتیو یا خویویونه جګېدی شي، خو موږ دا په پښتو کې هغسې نه لرو او د ۱۹۶۶ زکـ کې مې، چې په پښتو ټولنه کې په هکله خبرې کړې وي او هلته په کوټه کې څو ژبپوهانو شتون لاره د اروابناد دوست شینواري په ګډون، داسې وویل شو، چې موږ دا په ډېر او خورا سره جګولی شو.

-- ډېر خویویونه جګېدی شي

بنستیوړی( زیاتېدنه یا مثبت) : ګړندی، جګـ، ښکلی

۱ – لومړی جګېدنیوړی( کومپاراتیو Komparativ ) ډېر ګړندی، ډېر جګـ، ډېر ښکلی.

دویم جګېدنیوړی ( سوپرلاتیو Superlativ ) خورا ګړندی، خورا جګـ، خورا ښکلی.

یادونه: د ،،ډېر،، او ،، خورا،، په ځای ماته بل څه ښه مناسب نه برېښي، خو تاسو په کې فکر وکړئ.

یادونه: پښتو د نورو ژبو په څېر داسې په لار جګېدنه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**-- خویوی له پرتلییزویونو سره: لکه، یا، له، چا سره**

ښه کېدونکی یا ډېرېدونکی: دومره همدومره ... لکه: زه ( هم) دومره لوي یم لکه ته
**Komparativ** کومپاراتیو..... لکه، ... ته له ما څخه ډېر لوي یې.

یادونه: زمونږ ادبیان لیکي: ترما ډېر لوي یې او دا ناسم دئ.
یو اړیکوی تل د هغه له نسبتوي سره څنګ په څنګ وي.
( نوم/شینوم، نومځاینیوی، خوی وی یا ادورب)
اړیکوی تل هممهال یا سملاسي د مخه یا پسې پروت وي

-- سړی څنګه یو مخ ته – یا پسې ځای نیوی یا اړیکوی له ادورب څخه توپیرولی شي؟

یو مخ ته– یا پسېځاینیوی د یوګوني وي په څېر د غونډالي غړی یا غونډالغړی نه دئ.

-- یو ادورب د یوګوني وي په څېر غونډالغړی هم کېدی شي.

بېلګه: ټکی د ګردئ دباندې پروت دي( دلته پسېځاینیوی یا اړیکوی د نوم/شینوم سره د خاوندوالي څنګه والي یا په حالت کې دی).

یادونه: ما په پیل کې داپورته غونډاله داسې لیکلې وه: ټکی له ګردئ څخه د باندې پروت دی.

دا دپورته غونډالې ناسمه لیکنه ده، ځکه چې په دې غونډاله کې به ټکی له ګردئ دباندې وي، خو هغه ځای به د ګردي له خاوندوالي څخه بل ځای کې دباندې وي.
ټکی د باندې پروت دی ( ادورب – لوکال- یا ځایز ادوربال)
پرته له دې کېدی شي یوګوني ویونه د اړیکوي (مخ-یا پسېځاینیوي) او د تړنوي په څېر هم وکارول شي.

بیا: د ګردئ دباندې، په دې پرېپوهېدنه، چې دا دباندې د ګردئ پورې اړه لري او که وو ایو،، له ګردئ څخه د باندې،، ، نو کېدی شي، داد ګردي نه وي، دابه یو بل چېرته کېدی شي وي..
بېلګه:

هغه د ګاډیټګ ترخ کې له کړکۍ څخه کتل. (اړیکوی له نوم/شینوم سره د خاوندوالي په حالت کې)

هغه له کړکۍ څخه کتل، په داسې ترڅ کې چې دباندې زورور جکړ وو. ( تړنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# präpositionen-- اړيکويونه

## او په غونډاله کې يې ځاى:

له نوم/شينوم څخه د مخه يا پسې

بېلګه: هغه د سين په اوږدو ګرځېد

-- د نوم/شينوم اخوا يا له نوم/شينوم څخه لرې کېدنه :

بېلګه: له سينغاړې څخه اخوا هغه کوچنى وچه (ټاپو) ليدلى شوه. له جلال ابد څخه لرې.

-- له نومځاينيوي سره:

بېلګه: ځمرى نن له ما کره شپه کوي. ځمرى نن له ماسره دئ

-- له خوينوم او نوم/شينوم څخه د مخه:

بېلګه: هغه د پستو، سرو شګو له منځ څخه و اوبو ته وځغلېد.

له ادورب سره:

بېلګه: هغه د شا له خوا څخه غونډوسکه منځګردئ پورې غورځوي.

**Präpositionen** اړيکويونو ته بېلګې: دا چې موږ تراوسه پورې اړيکوييونه څنګه بلل او کارول، د ې څېړنې سره هغهسي نه ده، چې توپيرونو ته يې د ګرانو لوستونکو پام رااړوم. بل ځاى کې پوره څېړل شوي.

دبېلګې په توګه: پر،په، کې، باندې، پاسه، منځ (منځ کې)، (پر) باندې، څنګ کې، مخامخ، څخه، سره (له دې) و...(ته)، (له) امله، تر، سره له دې، پرته، دننه، پسې، له(وخت سره راځي)، مخامخ، شاته، دپاسه، کله کله، وحت ناوخت، پسې، دپاسه، دباندې، دېخوا، .....

يادونه: دماناسمون. په پورته کې پر او په د داتيو حالت پوره کېدونکي دي او ځانله څه ترېپوهېدنه نه لري، دا بلواک ويونه دي، دا بل ځاى کې پوره روښانه شوې دي او دا **په** پښتو کې نوې ميندنه ده

اړيکويونه په نخښه کوي:

- يو ځاى ( دباندې، لاندې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یو وخت( څخه، ترڅ یا منځ کې)

- یو ډول او رقم( ټیک آو ټیک...).

-یو لامل( سره ( سره له دې )، امله)

**Adeverb ادورب او ډولونه یې:**

-- دا وی ادورب په غونډاله کې یو غونډالغړی دئ او یا یو اتریبوت

لوکال ادورب ( ځای ادورب)
-- چېرته؟ کومځای؟ ( دلته، هلته، پاس، لاندې، دا، هغه، دباندې)

-- له کومه ؟ ( له پاسه، له دباندې، ....)

چېرته؟ کومځای ته؟( ښې لورته، هلته، د مخ په لور یا مخته...)

**Temporaladverb (Adverb der Zeit)**
تمپورال ادورب ( د وخت ادورب)

- کله؟ ( لمرلوېد، سهار، اوس، وروسته، هغه وخت، نن ...)

-- څومره اوږد؟ ( په ساعتونو، تراوسه، تل، له هغې ....)

--څومره دېر؟ ( ډېر، کله کله، --- ...)

**Kausaladverb (Adverb des Grundes)**
کوزال ادورب ( د لامل ادورب)

ولې؟ له څه امله؟، په څه ترڅ کې؟، له څه سره؟، له څه څخه؟، د څه لپاره؟)

**Modaladverb (Adverb der Art und Weise)**
مودال ادورب ( د رقم او ډول ادورب)
څه ډول؟ څنګه؟

( د زړه له کومې، ځانګړی، بلډول، نېکمرغه، څرګند، بې ادبه، ډېرواره، تر، نږدې، ډېر، لږ، نږدې)

ادوربونه کېدی شي وکارول شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له یوه کړنوي سره په تړاو د څنګه ورکړې په څېر ( زه دلته پاتېږم).

- له یوه خویوي یا له یوه بل ادورب سره په تړاو د اتریبوت په څېر( تل ارام پاتې شي، کله دباندې، کله دننه؟)
یو ادورب کړی شي د تړنوي دنده واخلي، که دا څنګیزه غونډاله ولري. تړنیز ادوربونه کېدی شي لکه خویوونه د خوندیوني او نیت یا قصد په څېر ووېشل شي.

اړیکوینیز ادوربونه جوړیږي دبېلګې په توګه (له) ... څخه

- دې + پسې= دې پسې

- دې(ځای) + پسې= دې پسې

- څه +پسې = څه پسې

- څه+ هکله (باره) = (په) څه هکله
له تړنوي سره کېدی شي ویونه، ویونډلي(-ګروپونه) او غونډالي یو له بل سره وتړل شي.

دا د غونډالو خپلواک غړي نه دي او اتریبوت هم نه دي.

له ویونتړنو سره به ویونه، وییونډلي یا غونډلي یو له بل سره تړل کیږي؟

داخپلواک غونډالغړي نه دي او اتریبوت هم نه دي.

د وییونو تړني:

بېلګه: سپین، غرنی او تورګل ګرځېدا (چکر) ته ځي.

سپینګل او ملالۍ سررول(بنسټرول یا اصل رول) لوبوي. ( لکه په فیلم کې)

له وییډلو(- ګروپونو) سره تړنه

بېلګې: د ډلېکار لاس ته راړني به په یوه ستره پلاکات یا یوه لیدونکي تخته لیک وښول شي.
په غونډالتړنو(**Parataxe**) کې له دوه سرغونډالو سره.

بېلګې: سپین فیلمجوړونکی دۍ او سپینګل د کامرې شا ته ولاړ دۍ.

ملالۍ غواړي موزیم ته لاړ شي، خو (مګر) سپینه په مینه سینما ته ځي.

## Bei Satzgefügen (Hypotaxe) mit Haupt- und Nebensatz:
له سرغونډالي او څنګغونډالي سره غونډالزیاتونه یا ورزیاتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګې: لمر بېرته ځلیږي، له هغې وروسته چې ورېنګي ووربېده.

پوستوالا یا پوستوړونکي پوست راوړ، سره له دې چې د شپې توانمنده ورینګي وه.

د تړنویونو سره سړی کړی شي خپل نیت ووایي یا ځرګند کړي:

(kopulativ): یو بل سره لړی کې

بېلګې: همداسې، او، لکه څنګه - لکه هم، هم، پرته له دې، له دې برابر، لومړی، پای، بالاخره(؟).

بېلګه: زه په سپورتتولنه کې غړی یم، همداسې په موزیک ښونځي کې هم.

**(disjunktiv): څه پردیکول ( پردي)**

**یا- او یا، یا....**

**بېلګه: موږ یا په ګاډي کې ځو یا په موټر کې.**

(restriktiv): څه بندول یا رابندول یا کمول

مګر، ځانله، ټیک ( فقط؟)، بیاهم، چېرته مخامخ، ترهغې، دومره لرې....

بېلګه: موږ اوس له درس سره پیل کوو، ترهغې چې ټول چمتو وي.
(kausal): لاملول ( لامل راوړل)

ځکه، که، سره له دې، داسې چې.....

بېلګه:هغه تیاتر ته په وخت نه راغی ( را نه غی)، ځکه ګاډی ناوخته راورسېد.

(temporal): وخت ورکول

په ترڅ کې، وروسته له دې،له هغې، تر....

بېلګه: هغه یو سخت ټکر کړی وو. له هغې (وخته) تل بیا دردیږي یا خوګیږي ( که غواړی درد لري).

(negierend): څه نه کول ( او که څه نه ول، لکه تور، نه تور)

بې له ، په ځای . نه-بلکه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: هغه په ورېځو کې تېروت، چې په ځای یې بېرته کوټګی ته لاړ.

:(konditional) یو شرط اېښول:

که، کله، بلډول، پرته له......

بېلګه: ملالۍ هرومرو غواړي تیاتر ته لاړه شي، که لا کارتې شته وي.

:(komparativ) پرتله کول

څنګه، پس نو، کله چې، تیک داسې....

بېلګه:سپین داسې اغیز وښود، چې ګوندې هغه به ډېر زړه بدی وي.

:(instrumental) لار ښول (الات ښول)

له دې سره، په دې ترڅ کې، په دې کې.....

بېلګه: هغه په څرګند ډول خپل توان ښه کړ، داسې چې --- یا ځکه چې ---- یا له دې سره چې هغه زیات تمرین وکړ.

:(konzessiv) قانع کېدل یا قانع کول:

په رښتیا... مګر،سره له دې، کله چې .. مګر، هممهال،

بېلګه: سره له دې چې له جګړ څخه خبروو، خو موږ بیا هم لاړو.

**:(adversativ) څه مخامخ کول:**

مګر،بلکه، له دې زیات،مخامخ، هم، بیاهم، د څه مخامخ، خو

بېلګه: هغه د کور کار نه کوي، خو په مینه سپورت ته ځي.

:(proportional: نسبت څرګندونه ( متناسب) یا پرتله ییز:

همغومره، څومره، څومره... همغومره

بېلګه:هرڅومره چې هغه ډېر کار کوي، همغومره ډېرې پیسې اخلي.

:(modal) یو رقم او ډول څرګندونه یا ښونه
په دې چې، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: هغه مور نيکمرغه کوي، په دې چې يا ځکه چې ناولتوب غورځوي.

## Hauptsätze

سرغونډالي يا بنسټغونډالي: هغه غونډاله، چې پوره موخه څرګندوي او هو همداسي د څنګغونډالي پيل کې راځي( تل داسي نه وي، خو د ې ته دې تل پام راوګرځول شي).

د غونډالي خونديوني له مخې سرې توپيروي:

## Haupsatz als Aussagesatz:

سرغونډاله د ويناغونډالي په توګه

بېلګه: ورينګي وريږي. توپ رغړي. زدکونکی يوه غونډاله ليکي.

يادونه او پېژند: وينا هغه ده، چې يو رښتيا ارزښا رښتيا يا نارښتياولري.

ويناغونډاله هغه غونډاله ده، چې رښتيا ارزښت رښتيا يا نارښتيا يې ښوول کېدی شي.

ـ د ما د ،،سم اند،، کتاب کتلی شی.

## Hauptsatz als Fragesatz:

سرغونډله د پوښتنغونډالي په توګه

بېلګه: ( ايا) ورېنګي سبا وريږي؟ ولې غونډوسکه ورغړېده؟ (ايا) ته يوه غونډاله ليکې؟

يادونه: که پام مو وي، نو د ويناغونډالي او پوښتنغونډالي منځ کې توپير نه ليدل کيږي، نو دا پوښتنغونډاله به يواځې له پوښتننخښي سره موخه وره کوو او که ،،ايا،، به ورسره ليکو؟

په ويېنه کې يې بيا روښانه توپير شته.

## Hauptsatz als Aufforderungssatz:

سرغونډاله د امريه غونډالي په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېبلګه: سملاسي يوه غونډاله وليکه! ناسمون مه کوه!ليکه!

سرغونډاله د درنښت امريې په څېر

بېلګه: هيله ده چې په غونډال ليکنې پيل وکړې.

يا: که هغه ته څه وو ايې.

سرغونډاله د غوښتنغونډالي په څېر:

بېلګه: کاش چې تا ناسمون نه وی کړی! تا کړی شو چې پوهنتون پيل کړې!

سرغونډله د غبږغونډلي په څېر:

بېلګه: ګوره، ډېر ناسمونونه دې درلودل! دا داسې ناوړه!

**Infinitivsätze**

ايفينيتيو د کړنوي بنستېنه يا بللېنه او هغه ته خپله پرېپوهېدنه ورکوي.هغه له ويبنسټ او پايونې جوړه ده. اينفينيتيوغونډالې له ټاکلو ويونو او اوړونونو يا ښه يې بڼه بدلونونو وروسته کاروو.

بېلګه : مخ ته لرل ( د يو څه کړنې). زه مخ ته لرم، چې د تېنيس لوبه پيل کړم.

زيات وخت اينفينيتيوغونډاله له سرغونډالې وروسته ځای ياځای په ځای وي، داکړی شي چې د غونډالې پيل کې راشي..

= spätlateinisch (modus) infinitivus =نه نږدې ټاکونکی ( نه له نږدې ټاکونکی)

اېنفينتيوغونډالې د کړنويونو سره په بنستېنه غونډالې دي.

**Infinitivsätze ohne “zu”**

اينفينيتيو غونډالې بې له،، ته،،

بېلګې: په څوکۍ ناست پاتې شه.

زه موټر ولاړ پرېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Infinitivsätze mit “zu”

له ،،ته،، سره

بېلګې زه وعده درکوم، چې (و) سبا ته له تا سره وګورم.

## Infinitivsätze mit ”Modalverben”

اینفینیتیو غونډالې ،، مودال کړنویونه)

بېلګې: زه غواړم تا په روغتون کې وګورم.

ته کړی شې (اجازه لرې) د ټولګې سره رسختي یا ارامۍ ته لاړ شې

## Infinitivsätze mit ”werden”

اینفیتیو غونډالې د ،، به،،

بېلګې: مورږ به نیاونیکه وګورو.

ته به ناوخته راشې.

:Partizipialsätze

پارتیڅیپغونډاله یوه څنګیزه غونډاله ده له پارتیڅیب ۱ سره( پارتیڅیپ پرېزنس) یا له یوه پارتیڅیب ۲ ( پارتیڅیپ پرفکت) سره. دا برخغونډاله د سرغونډالې و شي ته موخه لري او داپارتیڅیپ په ډېرو حالتونو کې غزېږي.

بېلګه: په بریا هیله من، هغوي وخپل ټیم ته دعا وکړه.

یو پارتیڅیپ یوه ګراماتیکي یا ژبلاریزه بڼه ده، چې له یوه کړنوي را بېلېږي او له دې سره سره کله، کله د یوه خوي وي خوي غوره کوي، په ځنو برخو کې د یوه کړنوي خوي هم غوره کوي.

Partizipialsätze

پارتیڅیپ غونډالې د پارتیڅیب ۱( پارتیڅیپ اوس وخت) او پارتیڅیپ ۲ ( پارتیڅیپ تېر وخت) سره جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارتیڅیپ ۱ له یوې پارتیڅیپغونډالي له دوه هممهالځغاستنده کړنو سره کارول کیږي.

بېلګې: په الوتکه کې ناست، جګېدو ته صبر کوي.

په ځمکه پروت، هغه ستوري ګوري.
په پارتیڅیپیالغونډاله کې له پارتیڅیپ ۲ سره کړنه په بنسټ – یا سرغونډاله کې کړنې څخه د مخه کړل کیږ.

بېلګه: پاس نا وخته ورکړل شو، تور لوبغاړي(تور ساتونکي یا ګولساتونکي) وکولی شو هغه ونیسي.

همدا اوس چې دی ویښ شو، هغه وو چې تلفون زنګ وواهه.

## غونډال لړۍ Die Satzreihe

## یوځایشوې غونډالي Der zusammengesetzte Satz

یوه غونډاللړی(Parataxe ) – غونډالترنه هم بلل کیږي- له دوه یا ډېرو برابرارزښته غونډالو څخه جوړیږي:

بېلګه: مور وکار ته ځي. پلار خرڅلاو ته.

مور وکار ته ځي(،) او پلار خرڅلاو ته.

## Ein Satzgefüge (Hypotaxe)

غونډالزیاتونه (Hypotaxe)له سر- یا بنسټغونډالې ( زیات وخت له یوه ترنوي سره تړلې) څخه جوړه ده.

په ژبلار کې د هیپوتاکس لاندې د یوې څنګیزغونډالې د بلې څنګیزغونډالې سره ترتیبول پوهیږو. یوه ګډوله غونډاله، چې له یو ځله یا له ډېرځلو هیپوتاکسو څخه لاس ته راغلې وي، په ژبلار کې غونډالزیاتونه پوهیږو. ( کېدی شي مور د مخه بل څه نومولي وي، خو زه ترې خبر نه یم. زه ملامته یم).

له غونډالزیاتونې څخه په ژبلار کې یوه ګډوله غونډاله پوهیږو، چې لږ تر لږه له یوې بنسټ – یا سرغونډالې او له یوې څنګغونډالې څخه جوړه وي( او یا هم زیاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګیز غونډالي ولري). غونډالزیاتونه د هیپوتاکس په مېکانیزم جوړه یا ودانه ده.
بېلګه: زدکونکی یو څه پوهیږي. هغه باید زده کړي.

زدکونکی پوهیږي، چې هغه باید زده کړي.

## په غونډالزیاتونه یا له څو غونډالو یوه جوړونه....

په غونډالزیاتونه یا له څو غونډالو یوه جوړونه کې بنسټ-یا سرغونډاله او ځنګیزغونډاله.

ځنګیز- یا ځنګغونډاله د بتسټغونډالې مخ ته، څنګ ته او یا د بنسټغونډالې منځ کې وي. هلته یوه غونډالزیاتونه منځ ته راځي.

ځنګیزغونډاله له بنسټغونډالې څخه د مخه:

بېلګې: دا چې یا ځکه چې باران وریږي، لوبه په کوټه کې کوو.

سره له دې چې زه وخت نه لرم، سینما ته ځم.

ځنګیزغونډاله د بنسټغونډالې پسې:

موږ لوبه په کوټه کې کوو، ځکه چې باران وریږي.

زه سینماته ځم، سره له دې چې وخت نه لرم.

ځنګیز غونډاله د بنسټغونډالې منځ کې:

بېلګې: موږ لوبه ، دا چې باران وریږي، په کوټه کې کوو.

زه، سره له دې چې وخت نه لرم، سنما ته ځم.

**ځنګیزغونډالې**

ځنګیزغونډالې کېدی شي د هغوي د دندې له مخې توپیر شي، بیا کېدی شي غړیغونډالې وبلل شي.

شیغونډالې( غړیغونډاله په نومیز حالت کې)

څوک چې وږی وي، باید وخوري.( څوک باید وخوري؟)

ډېر خوښیږم، چې ته مې نن کتو ته راځې . -څه (شی) مې خوښوي.

شیغونډاله( غړیغونډاله د خاوندوالي -، داتیو-، اکوزاتیو- یا اړیکوین شی په څېر یا بڼه):

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: زه په یاد لرم یا راوړم، چې هغې یوه جایزه ګټلې.( څه(شی) مې په یاد لرم؟)

سپین سوچ وواهه، چې هغه څه کړی شي.( سپین څه سوچ وواهه)

هغه هکپک وو، چې هغه یوه جایزه ګټلې.( هغه په څه هکپک وو؟)

**Adverbialsätze:** ادوربال غونډالې:

بېلګې:

هغه لمبا ته لاړ، (کله) چې هغه د کورکار پای ته ورساوه. ( هغه کله لمبا ته لاړ؟)

سپین ناوخته راغی، ځکه چې ګاډی ناوخته شوی وو. ( ولې سپین ناوخته راغی؟)

**Attributsätze: اتریبوتغونډالې:**

اتریبوتغونډالې په ژبلار کې یوه څنګیزه غونډاله ده، چې د یوه اتریبوت دنده لري، داسې چې له یوه نوم (سوبستانتیو) یا د یوه سوبستانتیو ګروپ په واک کې وي.

بېلګې: سپي، چې غاپي، نه داړي. یا داړل نه کوی.( کوم سپي نه داړي؟)
پیل(فیل) اموخت(عادت) لري، چې (هغه) سر خوروي) ( پیل څه اموخت لري)

**Konjunktioalsätze ترنغونډالې:**

څنګغونډالې د ترنویونو له لارې لارښودیږي

کړنوی زیات د څنګیزې غونډالې په پاې کې په ځای وي.
د خپلې غوښتنې یا نیت سره سړی دا توپیرولی شي:

**Kausalsatz (Begründungssatz)**
کوزالغونډالي (لاملغونډالي)

( ترني: چې، ځکه، ځکه چې، دا چې، داسې په نامه(؟))

بېلګه: زه تا واده کوم، ځکه چې راته ګرانه یې.
سبا ته ښونځی نه شته، ځکه چې د رسختی پیل دی

**Konditionalsatz( شرطی غونډاله)**
( شرطونه: څنګه والی (؟) (حالت) د خبرو دې، کله (چې)،که، پرته له، بل ډول...)

بېلګه: نمرې به دې ښې شي، که تا درسونه زده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چای جوړوم یا کړم، که ته راځې.

**Modalsatz (Satz der Art und Weise)** (د رقم او ډول غونډاله،)
(کنجنکشن یا تړنویونه: داسې چې یا که چېرې، که چېرې،که)

بېلګه؛ تاسو لوبه ګټلی شی، که (چېرې) تاسو پوره وهڅېږئ.

**Temporalsatz (Zeitsatz)**
(وختغونډاله)

(تړنویونه: ( چې، له هغې، دې ...) وروسته، ترڅ کې، له هغې پسې، پورې( دلتهمې ،،
تر،، لیکلی وو، خو د وروستیو څېړنو لهمخې ،، تر ،، ناسم دئ او څه پرېپوهېدنه نه لري.
دا موصوع لږ پېچلې شوې، چې بل ځای کې به پرې وغږېږو)، ....)

یادونه: تر د تړنوي په څېر هم راځي، خو د له او ..... نورو ځاینیوی نه شي کېدی

۱۰ بجو تر ۱۱ بجو پورې. یا ۱۰ – ۱۱ بجو

بېلګه: ټولګی (هغه) مهال (د کاډو ) تمځای ته راغلل، چې ګاډی راورسېد.

**غونډالجوړونه**

یوه ساده غونډاله څنګه جوړه ده؟

نجلی لیکي ( شینوم (نوم)+پرېدیکات)

(ایا) نجلی لیکي؟ ( پویتنوی+ شینوم یا نوم+پرېدیکات)

ژوندېپاتو د مړو (ومړو ته) دعا وکړه.( نومځاینیوی + خاوندوالی شی( د،،ته،، حالت)+
پرېدیکات)

پلورونکي له مشتریانو څخه خوښنه وکړه.( شینوم + داتیو شی + پرېدیکات)

ځوان ملګری ګوري. ( شینوم + اکوزاتیو شی)

ښونکي لیکناسمون پام کې لري.(شینوم + اړیکویز شی+پرېدیکات)

زه په شینوارو کې اوسېږم.( شینوم+ځایوربیال + پرېدیکات)

ګاډی ناوخته ځي.( شینوم + وختیز ادوربیال + پرېدیکات)

سترنج د وختتېرولو له امله کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ما د ملګري سپی په اوبو کې لامبي. ( د خاوندوالي اتريبوت+ شی+ځای ادوربال+ پريديکات)

کوم ځايېدلونونه شونتيا شته؟ يا کوم ځايېدلونونه کېدی شي؟ ( خوښه مو) ځوان خپل ملګری ګوري. ( شينوم+ اکوزاتيو شی+ پرېديکات)

پوښتنه يې هم همداسې ده، خو ،، ايا،، يې و مخه ته راتلی.

(ايا) دا ځوان خپل ملګری ګوري دا ځوان.( نوم+اکوزاتيو شی+ پرېديکات)

## Subjekt (Satzgegenstand) und Prädikat (Satzaussage)

شينوم( غونډال اله) او پرېديکات ( غونډالوينا)

( يادونه: پرېديکات هغه څه دي، چې يوه کړنه کړل کيږي يايوه کړنه کيږي)

د غونډالغړو سره

شينوم( غونډال اله) او پرېديکات( غونډالوينا) سره سړی کړی شي ساده غونډالي جوړې کړي.

بېلګې: کوچنی لوبيږي. موټر روانيږي. سړی پخوي. ښځه ګنډي.

د پوښتني په بڼه: هلک لوبيږي؟ روانيږي موټر؟ پخوي سړی؟ ګنډي ښځه؟

يادونه: زه پرېکړه نه کوم، چې دا به څنګه راغلې وي. موږ په پښتو کې لکه غونډاله يو ډول ليکو او بيا پوښتننخښه پسې زياتوو او يا يې د مخه ايا ليکو. فکر به ورته وکړو.

شی يا ښه يې نومويی کړی شي

يو نوم/ شينوم – يو نوموی -

يو نوموی د مل سره-

يونوم/شينوم د اتريبوت سره -

يا هم يو نومځاينيوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: په بخښنه. تاسو پوهیږي، چې دا پورته - د ،، وي،، په ځای لیکل شوی، دا په دې
تربیوهېدنه،چې په هرځای کې د ،،-،، په ځای وي راتللی شي.
شینوم ( غونډال اله)

زدکونکي زده کوي.

څوک یا څه شی؟(نومیز)

څوک یا څه شی زدکوي؟ زدکونکی زده کوي.

شینوم: زدکونکی

**Das Prädikat (Satzaussage)**
پرېدیکات ( غونډالوینا)

زده کونکی زدکوي.

څه کوي.... ؟ څه پېښږي...؟

پرېدیکات وایي، څه دي، څه پېښیږي یا څه کړل کیږي یا څه کیږي.

زدکونکی څه کوي؟ .... زده کونکی زده کوي.

برېدیکات زده کول.

پرېدیکات تل یو کړنوی دی.
شی – غونډالپوره کونه

## لاندې شیان شتون لري:

خاوندوالي شي، داتیو شی، اکوزاتیو شی، اړیکویز شی.

خاوندوالي شي ( ګرامري دویم څنګه والی یا پېر)

پوښتنه: د چا؟ د څه؟

بېلګه: ژوندیو د مړو دعا وکړه.

ژوندیو د چا دعا وکړه؟ هغوي د مړو دعا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه: دا څنګه والی( پېر يا حالت) د الماني په متن دا لاندې څو بېل بېل څنګه والي لري، چې هغه به يا همداسې نيسو او يا به خپل خپلواک نومونه ورکوو. که په دې څه ليکلشوي وي، خو ښه او که نه، نو بيا بايد يوه ټوليزه څېړنه پرې وشي.

داتيوشی ( دريم څنګه والی يا پېر)

پوښتنه: له چا، له څه؟ ( سره، څخه، کره)، وچا، وڅه؟ ( ته) .....

يادونه: دلته د خبرو ډېر څهشته او هغه ،، د ما نوې ميندنې،، کې ښهروښانه شوي.

قلم وملګري ته ورکوم.

قلم وچا ته ورکوي؟

و ملګري ته.

قلم له ما سره دی.

قلم له چا سره دی؟

له ما سره.

قلم له سپين څخه اخلم.

قلم له چا څخه اخلې؟

له سپين څخه.

نن له سپين کره وم.

نن له چا کره وم؟

له سپين کره.

يادونه:دې ته په چا، په څه؟ او پرچا او پرڅه ؟ هم ورزيات کړئ او همداسې و چا، وڅه ؟

دلته څه نور هم د ويلو شته، چې دا به بيا ورزيات کړم.

اکوزاتيو شی ( څلورم څنګه والی يا پېر، حالت)

پوښتنه: څوک، چا، څه (شی)؟

بېلګه: هغه و ماته دوه موټر راکوي.

نن د ما ملګری ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و چا ته دوه موټر ورکوي؟

هغه دا وما ته راکوي.

هغه نن څوک ګوري؟

هغه نن دما مګرى ګوري.

نن د ما ملګرى ګورم.

## Das Präpositionalobjekt

اړيکويز شی

پوښتنه: له چا یا څه سره؟ د څه په هکله؟ پر څه - یا پرچا باندې؟ په چا یا په څه کې؟ و چا یا وڅه ته؟ چا یا څه پورې؟ (اړیکوي سره پوښتنه)

بېلګه: ښوونکي له زدکونکو سره د کار په هکله خبرې وکړې.
ښوونکي له چاسره خبرې وکړې؟ ښونکي له زدکونکو سره خبرې وکړې.

په څه هکله ( له څه شي) ښونکي خبرې وکړې؟

ښوونکي د کار په هکله خبرې وکړې.

په خنو څنګه والو کې روښانه نه ده چې توپیر کړي، چې ایا یو خپلواک غونډالغړى ( اړيکويز شی) یا یو ورزیاتونه ( اړيکويز اتريبوت) مخ ته پروت دی.

د ګومان په څنګه والي یا حالت کې دواړه شونتیاوې شته.

## Mit den Satzgliedern
### د غونډالغړو سره

شينوم یا نوموېي( غونډال اله) او پرېديکات( غونډالوينا)

کېدی شي سړی ساده غونډالي جوړې کړي؟

بېلګه: کوچنی لوبې کوي. موټر ځغلي، سړى پخوي، ښځه کار کوي

د پوښتنغونډالي په څېر: ایا کوچنی لوبې کوي؟ ایاموټر ځغلي؟

ایا سړى پخوي؟ ایا ښځه کار کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: په پښتو کې دا پوښتنوی له ویلو څرګندیږي او زیات وخت د ،، یا ،، ورسره نه لیکي یا وایي.

**اتریبوت- ورزیاتونه**

اتریبوت  خپلواک غونډلغړي نه دي.

ادجکتیوي یا خویوییز اتریبوت(هم: اتریبوتي خویوییونه):

خویوی یا هم ګڼوی له یوه نوم/سوبستانتیو سره زیاتیږي:

بېلګې: ښکلی کور. دما نوې غونډوسکه، دریم ځای

**präpositionales Attribut**:

اړیکوییز اتریبوت:

اتریبوت کېدی شي له ډېرو وییونو او له نورو وییونو – د یوه اړیکوي سره په تړنه- جوړ وي.

بېلګه: زه شمېرونی(کمپیوتر) له اعلاناتو څخه اخلم.

**Genitivattribut**:

خاوندوالي اتریبوت:

شي یا نوم ته په خاوندوالي ورزیاتونه

بېلګه: دما د ملګري سپی ښه روزلشوی دی.

د هنرمند انځورونه هکپکونکي وبرېښېده.

یادونه: موږ د ځنګه والي یا حالت په هکله څه ستونځې لرو، په دې هکله مې په لنډ تېر وخت کې لیکنه هم خوره کړې، که هغه مو وکتله او د سمون په هکله مو یې فکر وکړ، خوښ به شم.

Partizipپارتیڅیپ:

د کړنوي لپاره یوه د نخښونې بڼه ده، چې د کړنوي ( بېلابېل وختپوړی) او هم د خویوي (بدلونتوانوالی) خویونه لري او له دې سره د کړنوي او خویوي په منځ کې ځای نیسي ( په دواړو پارتیڅیب شوی)

،، ،، تلونی،، د کړنوي ،، تلل،، اوسمهال پارتیڅیپ دی.،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**► Partizip als Attribut**
پارتیځیپ د اتریبوت په توګه

بېلګه: خوښو لیدونکو  په خپلو ځایونو چغې کړې

هغه په ځغاستندي – یا ځغاستېتې (ور) زدکړه (تمرین) ورکوله.

**غونډالجوړ** ونې
**وختونه**
**اوس وخت**
**ځم، ځو،ځې، ځئ، ځي**

Präteritum oder Imperfekt = **1. Vergangenheit**

**لومړی تېر وخت: زه پرون ټوله ورځ کور کې وم ، ځکه چې (زه) ناروغ وم.**

**ما غوښتل سینما ته لاړ شم، خو باید بستره کې پاتې شم.**

**ما تبه لروده او د غاړې درد.**

Perfekt = **2. Vergangenheit** **تېر وخت ۲**
► Plusquamperfekt = **3. Vergangenheit**  **تېر وخت ۳**
**راتلونکی . ۱** ► Futur I = **1. Zukunft**
**راتلونکی . ۲**► Futur II = **2. Zukunft**

**تېر وخت او  او ۳ . تېر وخت د مرستندوي کړنویونو ،، لرل،، یا ،، یل،، سره.**

**راتلونکي د مرستندوی کړنوي ،،به+ کړنوی،، سره.  دلته هم مرستې ته اړتیاده،**

په پښتو غونډله کې کړونی چې د اینکلیتیکي نومځاینیوو په بڼه دي، د کړنوي پای کې راځي او دا په ډېرو مهالونو کې او له دې سره غونډله- پوره غونډله- له یوه وي څخه جوړه ده، چې دا غونډله هممهال کړنوی او کړونی دواړه لري.

بېلګې: تلل: ځم، ځې، ځو او....لاړم....

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړل: خورم، خورې...

مرسته: په پای کې د کړنې سره د کړوني ځاینیوي ځاینیوو تورو ته څه وايي؟

ایا دا توریز یا لنډ نومځاینیوي دي، که څنګه؟

وروسته څېړل شوي. لنډ: دا اینکلیتیکي نومځاینیوي بلل کیږي.

د کړنویونو بدلون یا بدلېدل ( د لرل او به سره)

بېلګې ناتوانه کړنویونه ............ بېلګې توانمند کړنویونه

اوسمهال: ..... زه وايم......... زه ځم

ته وايې ............ ته ځې

هغه ( ن، ښ) وايي ..... هغه (ن،ښ) ځي

موږ وايو..............موږ ځو

تاسو وايئ........... تاسو ځئ

هغوي ( ن ښ) وايي.............. هغوي ( ن،ښ) ځئ

اوس تېر مهال یا پرفکت: ما ویل ..................... زه تللم(*)

تا ویل............... ته تللې

هغه(هغې) ویل ........ هغه تللو، هغه تلله

تاسو ویل (ویلو)..... تاسو تللئ

هغوي ویل(ویلو).... هغوي تلل(تللې)

موږ وویل.................موږ لاړو (لاړلو)

تاسو وویل ..... ..... تاسو لاړئ ( لاړلئ)

هغوي وویل(وویلو)..... هغوي لاړل (ښ لاړلې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرفکت :...... ما وويل............. زه لاړم (لاړلم)

تا وويل (وويلو)....... ته لاړلې

هغه، هغې وويلو ... هغه لاړه(لاړلو)

ښ. لاړه ( لاړله)( توپير په ه کې دی.

موږ وويلو ............. موږ لاړو( لاړلو)

تاسو وويلو......... تاسو لاړلی

هغوي وويل ................هغوی(ن،ښ) لاړل ( ښ. لاړلې)...

پلوسکوم پرفکت: ما وويل... زه لاړم فکر : ماويلي وو

تا وويل...... ته لاړلې .... تا ويلي وو

هغه، هغې وويل........ هغه(ن،ښ) لاړه (لاړله)

موږ وويلو ............... موږ لاړلو

تاسو وويلو ............ تاسو لاړلی

هغوي وويلو................. هغوي (ن،ښ) لاړلو ( لاړلې)

راتلونکی ۱ : زه به وايم.................. زه به ځم

ته به وايې .................. ته به ځې

هغه به وايي................ هغه به ځي

موږ به وايو........موږ به ځو

تاسو به وايی............ اسو به ځی

هغوي به وايی........ هغوي به ځي

راتلونکی ۲ : ما به ويلي وي .... زه به تللی وم (*)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا به ويلې وې...... ته به تللې وې

هغه به ويلي وي........ هغه به تللی وي

هغهي به ويلي وي..... هغه به تللي وي

موږ به ويلي وي.......... موږ به تللي وو

تاسو به ويلي وي............ تاسو به تللي وی

هغوي(ن،ښ) به ويلي وي.....هغوي (ن،ښ) به تللي وي

لاندې ته يادونه: په لاندې کې د لرل او يل کړنويو سره بې له ځانيز نومځاينيوو هم دا غونډالي د يوه ويي په خبر سمې دي. لرم، يم او نور

| Konjugation der Hilfsverben د مرستندوي کړنويونو يا کړونو بدلون | | |
|---|---|---|
| Haben لرل | Sein يل | Werden به |
| **Präsens** | | اوس مهال |
| زه لرم<br>ته لري<br>هغه لري<br>موږ لرو<br>تاسو لری<br>هغوي لري | زه يم<br>ته يې<br>هغه دی<br>هغه ده<br>موږ يو<br>تاسو ياست<br>هغوي دي | په دې بدلون کې<br>لږ ستونځې شته<br>چې ګران ژبپوهان<br>مرسته کړی شي<br>زه به ( شم؟)<br>او همداسي دا نور<br>پام دې ورته وشي.<br>ته به |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | | هغه به<br>مونږ به<br>تاسو به<br>هغوي به |
| **Präteritum – Imperfekt** | | |
| ما لرل<br>تا لرل<br>هغه لرل<br>هغې لرل<br>مونږ، تاسو، هغوي لرل | زه وم<br>ته وې<br>هغه وه<br>مونږ وو<br>تاسو وئ<br>هغوي وو | |
| **Perfekt** | | |
| ما، تا، هغه، هغې لرلي وو<br>مونږ، تاسو، هغوي لرلي وو | زه وم<br>ته وې<br>هغه وو<br>مونږ وو<br>تاسو وئ<br>هغوي وو | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| **Futur I** | | راتلونکی ۱ |
| ما، تا، هغه، هغې به لرل<br>موږ ، تاسو، هغوي به لرل | زه به یم<br>به یم<br>هغه به وي<br>موږ به وو<br>تاسو به وئ<br>هغوي به وي | زه به شم<br>ته به شې<br>هغه به شي<br>موږ به شوي<br>تاسو به شوي وئ،<br>هغوي به شوي وي |
| **Futur II** | | راتلونکی ۲ |
| ما، تا، هغه، هغې به لرلې وي<br>موږ، تاسو، هغوي به لرلې وي | زه به شوی یم<br>ته به شوی یې<br>هغه به شوی یي،<br>هغه به شوې یي<br>موږ به شوي وو<br>تاسو به شوي وئ<br>هغوي بهشوي وي | زه به شوی وم.<br>ته به شوی وې،<br>هغه(ښ) به شوی وو(وه).<br>موږ به شوي وو.<br>تاسو به شوي وئ<br>هغوي به شوي وو<br>ښځینه:<br>هغوي به شوې وې |

پورته ته یادونه: پهپورته کې دې ګران لوستونکي او ډېر درانه ژبپوهان هم مرسته وکړي
ا په هر بل ځای کې هم.

**Aktiv und Passivکړونی او  پرې – یا نه کړونی (کېدونی؟)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کړنغونډالې کې شی ( غونډالپوره کونکی) په نه کړونغونډاله کې سبجکت ( غونډال اله ) کیږي.

کړنغونډاله( کړنبنه): ملالۍ(سبجکت) و هوګۍ( ابجکت) ته ډاډ ورکوي (پرېدیکات).
ناکړنوی ( زورېدبڼه): هوګۍ(سبجکت) ډاډمنه کیږي ( د ملالۍ له خوا)

**Aktiv** اکتیو:

په یوه اکتیو- یا کړنغونډاله کې سبجکت کړونی دۍ، نو کړونی بیا په همغه حالت کې وي.

پېلګې: ملالې هوګۍ ډاډه کوي.( ملالی کړونې ده، هغه هوګۍ ته ډاډ ورکوي.)

هوګۍ ربړیږي.( هوګۍ په همغه حالت پاتې ده.)

ځلمی دړه وازوي. ( ځلمی پخپله دړه وازوي.)

زه ښوروا لړم. ( زه پخپله ښوروا لړم)

**Passiv:** نه کړونی یا کېدونی: دا نه کړونی د کړونې مخامخ دۍ، نو دا ناکړونی دۍ.

بېلګې: هوګۍ ډاډه کیږي. ( هوګۍ پخپله څه نه کوي)

دړه وازیږي. ( د دړې وازول پېښیږي. یو شی دا وازوي)

ښوروا لړلکیږي. ( ښورا له دې سره څه نه کوي، یو کس یې لړي.)

Kasus احالت ( څنګه والې)

اړینه یادونه: دا حالتونه په پښتو کې همداسې راځي، خو په پښتو کې داټول په رکتوس او اوبلیکوس حالتونو کې خوندي دي او په بل ځای کې پوره څېړل شوي، چې هلته هرو مرو د ژبپوهانو مرستې ته هم پوره اړتیا لیدل کیږي، خو دا دلته راوړنهیې هم بې ګټې نه ده او ناسمه هم نه ده. دادې هم په یاد وي، چې دا له موږ سره په ژبپوهنه کې ډېر همرسته کوي، چې دموږ لپاره به ژبڅېړنه کې نوي وي، نو له دې امله ستاسو مرستې ته هم پوره اړتیاشته، چې ناسمون او سمون ته یې سره فکر او څېړنه وشي.

د حالت په څېړلو پیل کوو، په داسې ډول چې د ما په پخوانیو لیکنو کې به لږ بدلون وګورو. دا چې دا بدلون به سم وي او که څنګه؟ په هغې باید اندونه سره بدل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو د ژبلار ليکنه زيات وخت زموږ ليکوالانو له دباندنيو پښتوپوهانو څخه رانيسي. بله لار نه لرو، خو ناسمونونه بايد پهکې وکتلی شو.

۱ – څنګه والي په هکله څه بايد وپوهېږو؟

۲ – د کنترول پوښتنې – د کنترول پوښتنه داسې کوو

۳ – بدلونونه- د څنګه والي له مخې په رښتينې څه بدلیږي؟

۴ – څنګه والي ته ولې اړتيا لرو؟

۵ – ۴ څنګه والي د يوه ليد سره

۵ . ۱ – نوميز حالت

۵ . ۲ – د خاوندوالي حالت

۵ . ۳ – د و .... ته او همداسې نور حالتونه، چې بايدپرې وغږېږو
۵ . ۴ – د ناکړوني حالت

۶ – په پښتو کې حالت – په هکله يې غوره معلومات

په پښتو کې لاندې څنګه والي لرو

نوميز. خاوندواليز، داتيو يا و...، ناکړونی يا کېدوني څنګه والی

دا حالتونه د نوم/سوبستانتيو او د غونډلو د نورو توکو په منځ کې اړيکې ښايي. نوم په پښتو کې هم د نوميز، خاوندوالي، داتيو، اکوزاتيو څنګه والي په غونډله کې ځای په ځای دی.

په ځانګړې توګه الماني کې د دې څنګه والي لپاره څنګه والي - يا حالتپېژندونکي څنګه بدل شي. په پښتو کې هم د نوميز او اکوزاتيو لپاره داسې راوړلی شو:

کېک خوندور دې ( نوميز)

وما ته کېک راکړه ( اکوزاتيو)

که غواړې سم څنګه والی يا حالت ومومې، کړی شې د کنترول پوښتنه وکړې:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| حالت | نوميز | خاوندوال | داتيو | اکوزاتيو |
| ببلګه | هلک | د ملګري | و مور ته | سوغات ورکوي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنرولپوښتنه:   څوک یا څه  سوغات ترلاسه کوي. د چا مور  کوچني ته سوغات ورکوي؟

هلک و چاته سوغات ورکوي.  هلک و مورته څوک یا څه ورکوي؟

بدلون – د څنګه والي سره ټیک څه بدلیږي؟

له ټولو څخه د مخه (د ټولو سره له مخه ناسم دی)  نربښځیوال باید د حالت سره سر وخوري. دا نربښځیوال په ګوته کوي، چې نوم په کوم حالت کې ځای دي:
بېلګې یې راوړو او نور کېدی شي دا زما په نورو لیکنو کې وکتل شي.
پلار، د پلار، له پلار.... او دلته نور ډېر شته، چې بلځای کې څېړل شوي، پلار( په اکوزاتیو حالتکې).
په پښتو کې ، څوک، چا، څه همهغسې دي، خو د حالت اړوند مورفیمونه ورزیاتېږي.
لکه: چا، څوک، څه؟ د چا، د څه؟ له چا، له څه؟ او نور او چا، څوک، څه؟

په غونډله کې یو نوم کم یا لږ یواځې وي- هغه زیات یا ډېر  له  یوه خویوي سره وي:
،دا یو ښه سړی دی،،
کله، کله یې  په غونډله کې ځایناستی لیکل کیږي:
،، هغه ډېر ښه دی.،،

دا په دې ترېپوهېدنه چې نربښځیوال ، خویوی او نومځاینیوی په غونډله کې بدلیږي.:
،، زه د یوه ښه سړۍ سره لیدنوخت لرم. زه  له  هغه سره نن ګورم..

څنګه والي یا حالتونو ته څه اړتیا لرو؟

د څنګه والي  یا حالت په مرسته پوهېږو، چې نوم/شینوم په غونډله کې  کوم رول غوره کوي یا نیسي او په کوم ،، نسبت،، (اړوندوالي یا په اړیکو کې ) د غونډالې د نورو وییونو سره ځای نیسي. بې له څنګه والي یا حالت به ډېرې غونډالې نه پوهېدونې یا هکپکونکې برېښېدی یا وبرېښیږي.

لاندې وکورۍ. په لومړۍ غونډله کې به نومونه بڼه بدل نه شي او په بله کې به دا کار وشي.

-- کوچنی  مور ملګري لیک ورکوي،، دا هکپکونکې برېښي، که ؟ او یا څه نه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچنی ومور ته دملګري لیک ورکوي..

که دا غونډله د پوښتني په ډول ولیکو، نو داسې به وي:

څوک وچا ته د چا لیک ورکوي؟

څنګه والی یا حالت هغه دنده روښانه کوي، چې نوم یا همداسې نومځاینیوی یې په غونډله کې غوره کوي، او په غونډله کې یې د نورو ویيونه سره ،، نسبت،، یا اړیکې په ګوته کوي..

دا څلور څنګه والي یا حالتونه به تل له تا سره مل وي، نو ښه پام اوو څېړنه یې همدومره اړیينه ده: دا نور نه څېړم، په ډېرو لیکنو کې څېړل شوي.

## سیده -، ناسیده شی

سیده شی: پیژند: غونډالغړی، چې د کړنوي، په اکوزاتیو کې ، د غونډلې په واک کې دي او د یوه شي سینتاکتیکي دنده ډکوي.

مخامخ وی یې ناسیده شی.

۱ - کارونبېلګه: په غونډله کې. ،، زه دما د کورکیلي لټوم.،، ،، د ما د کور کیلي،، یو نومیز غونډال غړی دی، چې په اکوزاتیو ډول دئ او د یوه سیده شي دنده وکړنوي ،،، لټوم،، ته پوره کوي.

یوه غوره یادونه: موږ باید وهڅېږو، چې په خپلو ټولو لیکنو کې یو څه چې په پیدابښي توګه راغلی شي، بې پروا پرې نه ږدو. لکه په پورته غونډاله کې، چې د کړنوي د مخه ،، و ،، باید ولیکو. له دې سره د غونډالې څرنګوالی هم په پام کې نیول کږي، چې باید ونیول شي.

۱ – سیده شی نخښونه د سیمانتیکي دندې سره سراو کار لري، چې په ډېر دا ډول جوړښتونو کې خوندي ده، دا دکړنوي له کړنو څخه سیده اغیزمن شی یا ابجکت، چې هغه په دا ډول اړونده کېدنجوړښتونو شی یا ابجکت کیږي. ،، د کور کیلي د ما له خوا لټول کیږي.،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ - ،، داسیده شی پسې نښتی له کړنویکړنو ( یا د کړنوي له کړنو) څخه اغیزمن دی...،،

**ویی - یا لغات جوړونه:Wortbedeutung/Definition**

ناسیده شی

ویی پرېیوهېدنه/ پېژند

۱ – ژبه: غونډالبرخه، چې د کړنوي په واک کې دی، په ډاتیو ډول وي او د یوه شي سینتاکتیکي دنده پوره کوي. دا کلیمه د برخې په څېر د جینیتیو لپاره دنده هم پوره کوي –

او داتیو شی همداسې اړیکوي شي لپاره کارول کیږي. دلته نور هم ډېر څه شته، چې باید لیکل شوي وی، خو نور ورته سترې شوم.

کارونېلګه:

-- په غونډاله کې: ،، زه له تا سره مرسته کوم،، ،، له تا،، نومینال غونډالغړی دی، چې د الماني په داتیو او پښتو کې ،، له تا؟؟؟،، حالت کې دي او وکړنوي ،، مرسته،، ته د یوه سیده شي دنده پوره کوي.

-- د ناسیده شي نخښونه د داتیو لپاره کله د همهغه پرېیوهنیزه کلمه د پاس کلیمي( دا پاس په دې پرېیوهېدنه دی، چې هغه بل څه خوندی لري. برخه ورته نه شو ویلی، هغه بیابل څه دي) لپاره کارول کیږي پرته له اکوزاتیو( سیده شی).

-- دا ناسیده شی په الماني کې (پښتو ته دې پام وشي) له سیده شي په څېر نه د یوه ناکړوني غونډالي سبجنک( نوم) په څېر کارول کیږي: ،، زه له تا سره مرسته کوم،، داسې کیږي، چې،، له تا سره به مرسته وشي،،، دا ناسیده شی ،، له تا،، په داتیو حالت پاتیږي.

## Kasus (څنګه والی پېر یا حالت)

یادونه: په څنګه والي کې مې لیکنې تکرار راځي، خو بدلونونه پهکې شته. لوستلیې ماتهپېژنړه پورې بربښي.
دلته به لږ څه روښانه کړو او ځنې.................

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الماني ژبې له مخې څلور څنګه والي یا حالتونه لرو. دا چې په پښتو کې څو دي، دې ته دې پام وشي او ودې څېړل شي. زه به خپل وړاندیزونه وکړم. دلته د ډېروالي کې یواځې د داتیو څخه څه راوپېتلی شو.

۱ – نومیز پېر

پوښتنه: څوک، چا یا څه؟ ( چا-، څوک-، څه څنګه والی)

۲ – خاوندوالي څنګه والی یا پېر

پوښتنه: دچا؟ د څه؟( د چا - ، د څه څنګه والی یا حالت)

۳ – داتیو

پوښتنه: له چا، له څه (سره، څخه، کره...)؟ وچا (ته)؟ ، (تر) څه- ، - چا پورې؟، په چا ،په څه (کې)؟ نور هم باید پام ورته وشي. یا

۴ – اکوزاتیو:

پوښتنه: څوک؟ چا؟ څه؟ دا او ۱ – څنګه والی یا پېر یو ډول ښتنویونه خوندي لري، خو دا په پرېکړوني څنګه والي حالت کې کارول کیږي.

یادونه: دا څرنګه والي یا پېرونه ما څو ځایه څېړلي او په اخرو لیکنو کې مې سمونونه پهکې راوستی، په ځانګړې توګه دریم څنګه والي یا پېر کې.

**Nominativ نومیز:**

ښځینه: ونه، یوه ونه، دموړ ونه. زیات یې : ونې.

**نارینه:** کور، یو کور، د تا کور. زیات یې: کورونه.

**Genitivخاوندوالی:**

**ښځینه:** د ونې، د یوې ونې، دموړ د ونې. ډېر یې : د ونو

نارینه: د کور، د یوه کور، د تا د کور، ډېر یې : د کورونو

**Dativ داتیو:**

له ونې (سره، څخه، کره...)

له یوې ونې (سره، څخه، کره...)

د موړ له ونې (سره، څخه، کره...)

له ونو (سره، څخه، کره...)، له کور

له یوه کور (څخه، سره، کره...)

د تا له کور څخه( سره، کره....)

له کورونو څخه

و تا (ته)، وهغه (ته) (ن)، و هغې (ته) (ښ) ، وهغوي (ن،ښ) ته.

په تا او ....، پر غغه....، او نور.

اړیینه یادونه: ماپه خپلو د مخه لیکنو کې داسې اندل، چې ګوندې دا ،،له...څخه،، دی، خو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دلته ډېر څه د ویلو شته او چې ایا دا بېل، بېل څنګه والی کېدی شي. په دې هکله باید فکرونه سره بدل شي او که له نورو ژبو څخه څه نور هم په کې بدلېدلی شي. دا پورهخبرو څه باید وي.

**Akkusativاکوزاتیو**

ونه

یوه ونه

دمورږ ونه

ونې

یادونه: دا اکوزاتیو او د نومیز څنګه والي یا حالت کې یو ډول دي، خو لومړی کړونی دي او دا بل پرېکړوني یا ناکړوني دی.

کور

یو کور

د تا کور

کورونه

**اتریبوت ( پژندنخښو) سره بېلګې:**

**نارینه:** زوړ چینار. د زاړه چینار. له زاړه چینار څخه. زوړ چینار.

ښځینه: ځوانه ونه. د ځوانې ونې. له ځوانې ونې څخه . ځوانه ونه

**Der Konjunktiv ترنویي یا - لغات**

**کونیونکتیو یا کنجنکشن**

**Der Konjunktiv I**

**کونیونکتیو ۱ ترنویی ۱**

۱ – کونیونکتیو زیات یوه هیله، یوه غوښتنه یا (یوڅه) رابلني ته وایي (افاده کوي).

دا چې ویل کیږي، لا تراوسه رښتیا شوي یا کړل شوي نه دي، بلکه د ویونکي له خوا څخه داسې غوښتلکیږي.

بېلګه: - هوښ ولره

- سړی دې دوه هګۍ واخلي

- هغه دې صبر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – له کنجنکشن ۱ سره ناسیده/ نه وییزې (نه ور غړیزه) ویناوې جوړیږي.
بېلګې: ځوان وايي، هغه هره ورځ خپله د خوښې مړۍ خوري.
پلار وايي، هغه دې پیسې سپما کړي.

## Konjunktiv II (Möglichkeitsform II)

**کونیونکتیو ۲ ( شونتیابڼه) تړنوییز ۲ :**

۱ – کونیونکتیو ۲ یو څه وايي چې په خیال کې وي، خو عملي شوي نه وي.
بېلګه: که شونتیا یې وی یا که کېدی شي یا که کېدونکې وي، هغه به هره ورځ خپله د مینې مړۍ خوري.
ما به داسې نه وی کړي.
زه به داسې څه هیڅ (وخت) ونه کړم.
کونیونتیو ۲ زیات وخت د درښت له امله هم کارول کیږي.
بېلګه: ما به هیله لرودی، چې تا دې یو ه غزل ویلی وی.
ما به تاته مشوره درکړې وی، چې دا کتاب دې ولولې.
۳ – کونیونکځیون ۲ کارول کیږي، هغې پسې چې یو څه ته لاسرسی شوی وي.
بېلګې: نو دا به وو.
د ازموینې لومړی پړاو به تا اوس سرته رسولی وي.
۴ – کونیونکځیون ۲ کارول کیږي، چې یو څه تېر او سرته رسېدلي وي.
بېلګه:که بس په خپل وخت راغلی وی، زه به په سم وخت ښونځي کې وی.
۵ – کونیونکځیون ۲ کارول کیږي، که یو څه همدا اوس پېښېدلی.
بېلګه: که ما په همدې وخت کې پیسې لرودی، زه به له تاسره سینما ته لاړ شم.
۶ - کونیونکځیون ۲ کارول کیږي، که یو څه لا نه وي پېښ شوي.
بېلګه: که مور د ښونځي کار دا اوس نه لیکلی، زه به نېکمرغه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Konjugation im Konjunktiv I

بدلون په تړنويونو ۱ کې

اوسمهال

زه ځم　　زه وايم　　زه خبرې کوم

ته ځې　　ته وايې　　ته خبرې کوې

هغه، هغوي ځي　　هغه، هغوي وايي　　هغه، هغوي خبرې کوي.

موږ ځو　　موږ وايو　　موږ خبرې کوو

تاسو ځئ　　تاسو وايئ　　تاسو خبرې کوئ

هغوي ځي　　هغوي وايي　　هغوي خبرې کوي

Perfekt پايشوی راتلونکی

زه دې تللی وم　　ما ويلي دي　　ما خبرې کړي

ته دې تللی وې　　تا ويلې دي　　تا خبرې کړې دي

هغه، هغوي تللي دي　　هغه هغوي ويلي دي　　هغوي خبرې کړي دي

موږ دې تللي يو　　موږ ويلي دي　　موږ خبرې کړي دي

تاسو دې تللي وئ　　تاسو دې ويلي وي　　تاسو خبرې کړي دي

هغوي دې تللي وي　　هغوي ويلي دي　　هغوي خبر کړي دي

Futur I راتلونکی ۱

زه به لاړشم　　زه به ووايم　　زه خبرې وکړم

ته به لاړ شې　　ته به ووايې　　ته به خبرې وکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه، هغوي به لاړ شي   هغه، هغوي به ووايي    هغه، هغوي به خبرې وکړي

موږ به لاړ شو      موږ به  ووايو ،          موږ به خبرې وکړو

تاسو به لاړ شئ   تاسو به ووايئ   تاسو به خبرې وکړئ

تاسو به لاړ شئ  تاسو به ووايئ    تاسو به خبرې وکړئ

هغوي به لاړ شي  هغوي به ووايي    هغوي به خبرې وکړي

Futur II راتلونی ۲

زه به تللی وم  مابه ویلي وي  ما به خبرې کړې وي

ته به تللی وې تابه ویلي وي   تا به خبرې کړي وي

هغه، هغوي  به تللي وي  هغه، هغوي به ويلي وي   هغه هغوي به خبرې کړې وي

موږ به تللي وو     موږ به ويلي وي    موږ به خبرې کړې وي

تاسو به تللي وئ    تاسو به ويلي وي   تاسو به خبرې کړي وي

هغوي به تللي وي    هغوي به ويلي وي    هغوي به خبرې کړي وي.

## Die direkte Rede

**سيده ويناوې يا – خبرې يا ګړېدل(؟)**

يادونه: ما پورته د هغه اړوند وي دوه ډوله پرېپوهېدني ليکلي. دا توپير لری. د سم اند له مخې وينا يو څه او خبرې بل څه دی. وينا يو رښتيا ارزښت لري او هغه بايد وښوول شي، چې داوينا رښتيا او که نارښتيا ده او خبرې دا نه وايي. دا به داسې ووايو، چې ټول هغه ويل، چې دا د وينا پېژند نه لرې، خبرې دي.

سيده خبرې د يوې غونډالې برخه ده، چې  ويونه ببرته ورکوي، کوم چې ويل شوي وي.

دا ويل شوي چې په نخښه کړو، د نخښوننخښو منځ کې ځای په ځای کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شونتیاوې:**

پلار وویل: ،، نن موږ یو چکر وهو.،،

،،نن موږ یو چکر وهو،، ، پلار وویل.

،، نن،، ، پلار وویل، ،، موږ یو چکر وهو،،.

،، ایا نن یو چکر وهو؟،، ، سپین وپوښتل.

،، موږ نن یو چکر وهو!،، ، سپین غږ کړ.

die indirekten Rede ناسیده خبرې

په ناسیده خبرو کې ( نه وییزې خبرې) دا ویلشوې وییونه بېرته نه ورکوي، بلکه په یوه وییزه خبرې خبر ورکول کیږي.

سرې دبېلګې په توګه په کار اچوي، که سرې د یوه بل یوه وییزه خبره یو دریم ته ورکوي.

ناسیده خبرې دې په کونیونکڅیون ۱ کې ځای په ځای وي.

سپین ماته وویل، هغه نن د فوتبال ( پښنو غونډوسکې) لوبغالي ته ځي.

سپین ماته وویل، چې هغه نن د فټبال( پښنو غونډوسکې) لوبغالي ته ځي.

لوبغاړی په اند وو، هغه په ښه حالت کې دی.

ناسیده خبره په کونیونکڅیو ۲ کې ده، که کونیونکڅیون ۱ څخه یواځنی روښانه وي:

سپین وویل، که د هغه مورپلار نن یو نوی موټر اخستلی وی. ما به هیله لرلی وی، چې هغوي نن دلته راغلي وی.
ناسیده خبرې زیات په ایندیکاتیو وي، که روښانه وي، چې یوه ناسیده خبره مخ ته پرته وي، په ټوله کې یه یوه غونداله کې له یوه پیلويي سره .

سپین وایي، چې هغه د کورکار کوي.

موټروان په اند دی، چې دی مختګ لري یا ----،--لومړیتوب لري.

نه کړونی pas·siv

یوه کړنې ته لومړی بوخت یا کړونی، و یوې ټاکلې کړنې ته لومړی پل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خویوی یا خویګړAdjektiv

۱ - له خپله ځانه  له خپل ځان څخه څه نه پیلول او بې کړنې انتظار کول، شیان ځان ته راتلونې پرېښول، نه کړونی، ارام، موخې ته هڅېدونکی، نه کړونتوانمنده یا د څه لپاره هڅېدونکی.

،، هغه د سوچ بوچ ناکړونی پیداښت دی.،،

-پخپله په یوه څه کې نه کړونکی،څه چې ورسره پېښیږي، هغه به وي، په ځان تېرېدونې پرېږدي،،

۲ - په یوه شي کې پځپله بوخت، دا نه کول، هغه  یا دا پر ځان باندې منل، یو څه له ځان سره پېښېدلو پرېښودوني، په ځان اغیز پرېښودوني.

،، هغه غوښتل په خبرو اترو کې نه کړونی نه وي،،

څه دا لاندې دي؟

(چا) ( د چا) ( له څه شی) سره ( څوک) ( له چا) سره وواهه؟

پوښتنه ده، چې موخه وره  رامنځ ته شوې او په نوکانو کې حالتونه یا څنګه والې دي.

چا ( نومیز حالت دی. ما، هغه، سپین...) یې په ځای راځي. د چا ( دلته ،، د ،، د خاونداوالي مورفیم دی، دا ،، د چا،، د خاوندوالي حالت دی)

یادونه: په دې دوه حالتونو کې مور په پښتو کې شتونځې نه لرو، که څه هم په نومیز حالت کې بیا د (څوک) باندې بدلیږي او همداسې د پربکړوني حالت کې  هم بیا د ،، چا،، په ،،څوک،، بدلیږي. دې ته په الماني کې اکوزاتیو وایي. له چا (داتیو حالت دی، دې ته بیا په پښتو کې زیات بېلابېل برخې  وایې او که پخپله حالتونه دي، لري).

Interrogativsätze  انتروګاتیوغونډالي
روښانه ده، چې ته به په دې وینو کې ځانله پوښتننخښه په پام کې لرې. دا کېدی شي ډېره پارونکې یا په زړه پورې وي، چې ستا د ژبې نوي ویونه و پېژنې. پښتو ژبه په ټولیزه توګه یا په ټوله کې پوره پېچلې ده، خو زیات دا بیا هم ببخې سم اندیزه او یواځې کېدی شي، چې پېچلې روښانه شوې وي. ګرامر( پښتو ژبلار) ټکي په ټکي ژباړل شوی (*) ،، د لیکلو هنر،،. نن مور د دې لاندې د ویونو - او غونډالو پوهنه(۱) پوهیږو، دا په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترپیوهېدنه چې د دیوې ژبې لارسیستم. د نورو ژبو په څېر موږ هم کړی شو زموږ د پښتو ګرامر یا ژبلار په بېلابېلو موضوعچاپېریالونو ووېشو:

انعطاف. زموږ ستونځې دا دي، چې موږ په پوهنه کې د ویونو د څرنګه والي سره نه یو مخامخ شوي.

سړی په یوه څه هلته پوهیږي، چې ورسره مخامخ شي او په هغې کې یې پام ته راشي، چې څه څه دي؟

اوړېدنه، بڼه بدلېدنه: د دې دوه ویوواو نورو کارول باید موخور وي.

اوړېدنه کې لور یا موخه له یوې لور یا یوې موخې بلې ته اوړي.

بدلېدومي هغه دي، چې موخه همغه ده، خو د وي بڼه بدلیږي.

خوزند/transformiéren

بڼه بدلول، اوړېدل، بلډول کول.

د اوړېدل لاندې څه پوهیږو؟

۱ ا - ترانزیتیو یا خوزند تلونی ؟؟؟ : لور، ځای لور بدلول.
۱ ب – اوړېدل( ترنزیتیو، لکه په ۱ ا – کې د موټر لوربدلون ځان چمتو کول...: ب) رېفلکسیو یا بېرته راګرځېدونی راګرځېدل: ځان راتاوول، بل لور ښوول؟

پیداښت( بې له ډېرو):

ټولې هغه ژوندۍ او مړې څرګندېدنې یا پېښېدنې، چې بې د انسان د څه کړنې څخه شته یا منځ ته راځې پیداښت دی. یا پیداښتي دي

،، ناژوندی پیداښت،،

- د بوټو، ژوو، اوبو او تیګو، د ځمکې د سر برخو په څېر ټولوالی یا د ټاکلو ځایونو( چې انسانان نه وي ورغلي او یا له هغوڅخه نه وي جوړشوي).

،، غوړېدلی پیداښت،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويېوولونه

په پښتو کې .... ويېوولونه شته: نوم، ادجګتيو يا خوی وی، نومځاينيوی، ګنيزويونه، کړلويونه، ادوربونه، اړيکويونه يا نسبتي ويونه، تړنويونه او انترجکشنونه. دا ويونه کېدی شي په بدلېدونکو او نه بدلېدونکو ويېوولونو ووېشل شي .دا د يوه لنډه يادونهوي او نور مخ ته نه شم تللی.

## غونډالغړي

د غونډالي جوړښت او موخه د غونډالي جوړښت په واک کې دی. دلته يا له دې سره بايد ته غونډالغړي او ويېوولونه سره ردبدل نه کړې. ويېول ټولکی يا کاتيګوري بلل کيږي، په کوم کې چې ته هر ځانکړی وی ترتيب کولی شې. غونډالغړي په څټ د يوې غونډالي توکي دي، دوي يوه دنده سرته رسوئ او کله کله کړی شي له يواځې يوه وي څخه جوړ وي، کله کله له ډېرو يونو څخه هم يا ويګروپونو څخه هم جوړ وي. د پښتو غونډالغړو پورې شينوم، برېديکات، شی لکه اکوزاتيو شی، خاوندوالی او داتيوشی او اړيکوی شی او همداسې ادوربالي ټاکنې، چې کله، چېرته، څنګه او يا ولې يو څه پېښيږی.

دا چې له کومو غونډالغړو غونډاله جوړه شوې ده، کړی شې د غونډالي د يوه ژورې څېړنې څخه راوباسې.

وختبنه: موږ په پښتو کې درې وختبنې لرو. اوسمهال، تېرمهال، او رتلونکی مهال. د دې لپاره چې دا مهالبنې

Adpositionenاړيکويونه يا نسبتي ويونه د کسانو، شيانو يا پېښو په منځ کې اړيکې ټاکي. له دې امله اړيکويونه هم بللکيږي.دوی کړی شي کوزال**kausale** ( بنسټ – پرته ، بې، په ځای)، لوکال**lokale** ( ځای بېلګه: ( کره، باندې )، تمپورال**temporale** ( وخت- بېلګه: (له) څخه، شاوخوا، ترڅ، ته) يا موډال **modale** رقم اوډول – بېلګه: پسې پېښه، مننه) نسبتونه يا اړيکې روښانه کوي.

کوزال(بې ما، پرته له ما يا له ما پرته، د ما پر ځای)،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځاییز: (پر یوه بجه، د ۱۱ بجو شاوخوا، پر ۱۱ بجو باندې)، وختیز ـ له ۱۱ څخه

ګڼیز

ګڼیز ګڼنویونه دي او ګڼون یا تعداد، درجه یا د ټاکلو شیانوډېرۍ دي. داسې په نامه توانګڼونه هم شته( یو، دوه) یا هم څوموالیز ( لومړی، دویم).

Interjektionen انترجکشنونه(ویین ویونه یا دویلو ویونه) دا وییونویونه یا افاده ویونه دئ یا فقط ویل کیږي. دوي په رېښتیني د غونډالې سره یوغږیزوالي کې نه راځي، خو دا یوچا ته غږ کول یا جګ غږونه دي، چې د هغو سره ته ټاکلي احساسونې ویلی شې( کله آ، هی هی ، بوی).

ویي جوړونه او ویي پرېپوهېدنه

ویي جوړونې په ویي سپماکي همداسې چټک مخ ته ځي لکه ویي له منځه تلنې. که د لرولو ژبنیزو الو په بنسټ ویونه منځ ته راځي، نو دې ته ویي جوړونه وایي. د ویي جوړونې غوره یې یوځای اېښل شوي ویونه( ګډوله ویونه) او رابېلېدني دي.

غونډالشننه

د دې لپاره چې سمه غونډالشننه وکړو، ته باید لومړی په یوګونو غونډالو غړو باندې یو لید واچوې یا وپېژنې

# د غونډالغړو ټاکنه

غونډالې له غونډالغړو څخه جوړې دي. ته دلته زده کوي، چې ته څنګه غونډالغړي ټاکل شې او څومره غونډالغړي شتون لري یا شته دئ.

غونډلغړي څه شی دئ؟

لکه څنګه چې ته په ډاډ پوهېږې، غونډالې په خوښه نه دي جوړې شوې.دوي له غونډالغړو، په دې پرېپوهېدنه چې له وییونو یا اړوند وییونډلې څخه جوړ دي. غونډالغړي د یوې غونډالې په دننه کې یوائې یا فقط د پوره برخې په څېر غونډالې ته ور واچول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرېِ یا د بل ځای نیوي کېدی شي. سړی غونډالغړي په ترې نه تېرېدونکو او پورهکېدونکو غونډالغړو سره توپیروي.

د غونډالغړو او وییېولونو په منځ کې څه توپیر دی؟

دا غوره ده، چې ته غونډالوییونه د وییېولونو سره ردبدل نه کړې، که څه هم دوي کله ورته اورېدلیکږي، د بېلګې په توګه ادورب( وییېول) او ادوربال( غونډالغړي).

وویېولونه د غونډالي توکي دي، له دې سره هر یو ویي تنظیم یا ترتیب کیږي. کړنوییونه،نومونه یا خویوییونه د وییوندولونو بېلګې دي.

غونډالغړي یې په څټ یا مخامخ د غونډالي غړي دي. غونډالغړي بیا له بېلابېلو وییونو، وییېولونو یا وییېلو جوړ دي.

سپین چټک له ښوونځي څخه وروسته خپل د کورکار سرته رسوی، چې د خپل ګران ځمري لپاره ډېر وخت ولري.

- سپین: سبجکت یا نوم

- سرته رسوي: پرېدیکات(Prädikat په پښتو یې سم نه شم اړولی)

- له ښوونځ څخه وروسته: تمپورال ادورب

- چټک: مودال ادوربالModaladverbial

خپل د کور کار: اکوزاتیو شی

- چې دخپل ګران ځمري لپاره ډېر وخت ولري: Kausalobjekt

- ګران : Attribut

کوم غونډالغړي شته دی یاشتون لري؟

ترې نه تېرېدونکو غونډالغړو پورې نوم او پرېدیکات اړه ( که غواړی تعلق) لري.

یوه پوره غونډاله لږ تر لږه دا دوه غونډالغړي لري. ټول نور غونډالغړی لکه **adverbiale** ادوربال ټاکني یا شیان پوره کېدونکي غونډالغړي دي او نه هرمرو اړین.

ټاکل یا شیان پوه کونکي غونډالغړي دي او نه په زور اړیېن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Das Subjektسبجکت نوموېونه

سبجکت تل د نومیز لپاره راځي او پوښتني ،، څوک، چا، یاڅه؟،، ته ځواب ورکوي. سبجکنت په یوه غونډاله کې ښایي، څوک یا څه یو څه کوي. په هره پوره غونډاله کې باید یو سبجکت خوندي وي. سبجکت د بېلګې په توګه کولی شي، یو نوم، یو ځانیز نوم، یو نومځاینیوی یا یو نومیزکونکی وي.

نوم: ځوان بېدیږي.

ځانیز نوم: سپین بېدیږي.

نومځاینیوي: هغه بېده دی.

نومیز کونه: خرار زوروي.

له پوښتنې ،، څوک، چا،څه؟ سره کړی شې په یوه غونډاله کې سبجکت وټاکې. دلته یو څو بېلګې:

پرون په تلوېزیون کې ښه فیلم و ښوولشو. پوښتنه: پرون پهتلوېزیون کې څوک یا څه وښوولشو؟ سبجکت: یو ښه فیلم.

هوګی په جګ غږ خاندي. پوښتنه: څوک یا څه (شی) په جګ غږ خاندي؟ سبجکت: هوګی.

دا چې ته پرون دلته وې، زه خوښ شوم یا وماته یې خوښي راوبخښله. پوښتنه: چا یا څه زه خوښ کړم؟

سبجکت( نوموېونه): دا چې ته پرون دلته وې.

## Das Prädikat پرېدیکات یا غونډالوینا

پرېدیکات وایي، چې دا شی څه کوي یا یې په تېر وخت کې څه وکړه. د پرېدیکات پسې د پوښتنې سره پوښتي: دا شی څه کوي؟. سړی یوه برخیزه او دوه برخیزه پرېدیکا ت سره توپیروي. په لومړی بېلګه کې پرېدیکات بېدیږي دی. سړی پوښتي: هلک څه کوي؟ . په یو دوه برخیز پرېدیکات کې یوه دوه برخې شوی پرېدیکات مخ ته لرو، که په غونډاله کې له یوه پرېدیکات ډېر وي. په لاندې غونډاله کې دوه برخیز پرېدیکات خوندي دی:

- هلک بېدیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نن غرمه هلک ښېده شو.

په دې غونډاله کې پرېډيکات دی: هلک ښېده شو. که پرېډيکاتبرخې ويونه رابند کړي ياراغونډ کړي يا په غبرږ کې ونيسي، چې هغه پرېډيکات اړوند نه دي، نو سړی د پرېډيکات غبرږ يا غونډال نوکانو غبريږي.

د پوښتنې سره ،، دا شی څه کوي؟،، کړی شي ته پرېډيکات وټاکې. ته دلته د پرېډيکات ټاکنو لپاره يو جوړه غونډالي ميمې.

- په شيبو شېبو وريږي. پوښتنه: دا څه کوي؟ پرېډيکات: وريږي.

- ما له ځمکلاندې څخه کتابونه راوړل. پوښتنه: ما څه وکړل؟ پرېډيکات: (...) راوړل.

- دوي په جګ غږ خاندي. پوښتنه: دوي څه کوي؟ پرېډيکات: (...) خاندي

خاوندولي- ، داتيو – او اکوزاتيوشی

شيان پوره کېدونکي غونډالغړي دي او کېدی شي له ډېرو وييونو جوړ وي. په يوهغونډاله کې کېدی شي، ډېر شيان خوندي وي. دا کېدی شي په بېلا بېلو ګرامري يا ژبلاريزه څنګه والي يا حالتونو کې وي او داسې د خاوندوالي شی، داتيو شی يا اکوزاتيوشی په څېر وي. ته د شيانو پوښتنه کوي، چې ته د ژبلاريزو حالتونو يا څنګه والو پوښتنه وکړې:

- خاوندوالي شی : د چا؟

- داتيو: له چا ؟، له څه؟ وچا؟، وڅه؟، په چا؟، په څه؟، پرچا؟، پرڅه؟... او داسې نور

- اکوزاتيو شيان: څوک، چا يا څه؟

دلته هم موږ دتا لپاره يو څو بېلګې چمتو کړي. د شيان داسې د غونډالغړو په څېر ټاکې:

زه د ښکلو کلونو  ياد لرم. پوښتنه : د څه ياد لرم؟ خاوندوالی: د ښکلو کلونو.

*- سپين و ځمري ته يوه سپينه پياله سوغات ورکوي. پوښتنه: څوک يا څه سپين و ځمري ته سوغات ورکوي؟ اکوزاتيو شی: يوه سپينه پياله.*

*- زه د ما له ملګرو سره مرسته کوم. پوښتنه: زه له چا سره مرسته کوم؟  داتيو شی: د ما له ملګرو سره*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اړیکویز شی Das Präpositionalobjekt

اړیکویز شی یو شی دی، چې د اړیکوي له لارې، یوه مخوي سره تړلی وي. د نورو شیانو بل ډول کړی شي اړیکوی (یا اړیکګړ) په خاوندوالي، داتیو، اکوزاتیو څنګه والي کې وي. دا اړیکوییز شی کړی شي د دې پوښتنو سره وټاکل شي.،، وچاته/ وڅه ته.......................او داسې نور

اړیکوي شی د اړیکوي له مخې پېژندل کیږي. دبېلګې په توګه په لاندې غونډله کې: زه د ما له ورور سره ولمنځتون ته ځم.

د اړیکوي د شي پسې پوښتنه داسې ده: زه له چا سره ولمنځتون ته ځم؟

د اړیکوي شي لپاره نورې بېلګې:

زه دما و ملګرې ته دربږم. زه وچا ته دربږم؟ د ما و ملګري ته.

هوګی د زړه له کومې د هغې په سیتار لوبې کوي. هوګی په څه باندې د زړه له کومې لوبې کوي؟ د هغې په سیتار باندې.

## ادوربال ټاکنې Adverbiale Bestimmungen

ادوربال ټاکنې هم د غونډالپوره کونو سره سر او کار لري. هغه د کړنو ټیک څنګه ولې روښانه کوي. لاندې ادوربالټاکنې سره بېلوو:

-- د ځای ادوربالټاکنې ( لوکال) روښانه کوي، چې څه پېښیږي. د دې پوښتنه د ،، چېرته،، ، ،،وکومځای ته،، یا ،، له کوم ځای څخه؟ سره کیږي.

-- د وخت ادوربال ټاکنې( تمپورال) روښانه کوي ، چې کله څه پېښیږي. د دې پوښتنه د ،، کله؟،، ، ،،څومره اږد وخت،،؟ یا ،،څومره زیات،،؟

-- د دول او څېر ادوربال ټاکنې (مودال) روښانه کوي، چې یو څه څنګه شوي وي. د دې پوښتنه ده، چې څنګه.

-- د لامل ادوربالټاکنې ( کاوزال) وایي، ولې یو څه پېښ شوي دي. د د پ،شتون ویونو سره پوښتنه کوي، چې ولې او له څه امله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دې چې ادوربالټاکنې او اړیکوییز شیان ورته کېدی شي، خو سړی کړی شي د پوښتنویونو په مرسته یو له بل توپیر کړي، لکه ولې یو څهپېښ شوي دي.

د د ادوربالټاکنو د ټاکل لپاره یې بېلګه.

-- ځمری د خرابې هوا له امله ښه خویه نه دی. پوښتنه : ولې ځمری ښه خویه نه دی؟ کاوزال ادوربال: د خرابې هوا له امله.

--غوټۍ او ځمری د اوبو وغاړې ته تللي. پوښتنه: غوټۍ او ځمری چېرته تللی؟ لوکال ادوربال. د اوبو وغاړې ته.

-- هغه له (زوړند) ټیټ سر سره کورته راغی. پوښتنه: هِغه څنګه کور ته راغی؟ د (زوړند) ټیټ سر سره.

-- زه نن سینما کې یم. پوښتنه: زه کله سینما کې وم. تمپورال ادوربال: نن.

## اتریبوت د غونډالغړي برخې په څېر

اتریبوت خپلواکه غونډالبرخه نه ده. هغه یوې غونډالغړي ته زیاتونه ده او ځانله ځای نه لري. اتریبوت کېدی شي په بېلابېلو بڼو رامنځ ته شي.

**Adjektiv-Attribut** خوییز اتریبوت: که یو نوم د اتریبوت له لارې نږدې ټاکل کېدی شي، نو دا خوي وی یو اتریبوت دی. لکه د بېلګې په توګه: کوښښي زدکونکی.

**Genitiv-Attribut** خاوندوالي اتریبوت:دا اتریبوت یو د خاوندوالي او اړوندوالي یو څه ته ښایي او له دې سره د خاوندوالي په حالت کې دی: د زدکوونکي قلم.

**Präpositionales Attribut** اړیکوییز اتریبوت:

دا اتریبوت که اړیکوییز شی له یو اړیکوي سره تړل کیږي لکه د بېلګې په توګه: زدکوونکي له تورو بوټانو سره.

ادوربال اتریبوت: دا ادوربال اتریبوت له یوه ادورب څخه جوړ دي، دا یوه ویی ته زیاتوالی انځوروي، لکه د بېلګې په توګه: دا هلته پوښتنې ډېرې مرستندوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Apposition** اپپوزېشن : یو اپپوزېشن و یوه نوم ته یوه ورزیاتونه ده او پخپله هم له یوه نوم انځوریږي یا جوړ دی او د یوې بېلېدننځښي له لارې سره رابندیږي.

بېلګه: مېرمن هوګې، چې د ښوونځي مدیره ده، ډېره سخته ده.

Konjunktiv und indirekte Rede ترنوی او ناسیده خبرې (وینا؟)

د کړنویونو سره اړوند یوه بله ګرامري کاتیګوري داسي په نامه مودوس دی. دا وی یو رېښتینی پېښه، یو امر، مګر یوه غوښتنه هم یا یوه کېدنه یا شونتیا ووایي یا افاده کړي. ترنوی د حالتونو لپاره راځي، چې تراوسه رېښتیني ، مګر کېدونکي دي. له دې امله دا امکاناتېنه هم بلل کیږي. په ناسیده خبرو(وینا) کې هم یا شرطییزو غوندالو کې، دا کارونه مومي. خو دلته یو څو توپیرونه شته، له کومه لامله، چې ترنوی ۱ او ترنوی ۲ سره باید توپیر شي.

**Konjunktiv I** **ترنوی** ۱ : راتلونکی ۱ په ناسیده خبرو کې پیداکیږي، خو په کره کارونو کې( چاته غږ کول، (له چا)غوښتل).

-- پلار ویل، چې هغه د دې لپاره وخت نه لري.

-- هغه دې خوښ ژوندی وي!( کره کارونه)

**Konjunktiv II** ترنوی ۲ : دا ته هلته کاروې، چې ته یو څه غواړې، او هم په ناسیده خبرو کې، په شرطي غونډلو او یا په ځانګړې توګه په درنښت جوړو جوړښتونو کې.

-- هغه به غوښتلو، چې که (کاش چې ) دا څه ګرمه وی.( هیله).

-- کړی شم له تاسو هیله ولرم، چې وما ته یو څه له ځان سره راوړې.( هیله منده یا مؤدبه غوښتنه)

-- که ما د موټربیولو اجازه لرلی، زه به اوس تللی وی( شرطي غونډله).

(Eigenschafts-wort) **Adjektiv**ادورب ( خویوی یا صفت)

................ ،، ښکله ویونه،، خوږ، شین، ښکلی، ستړی، کوچنی، چټک، برګ( په غوصه).

(Umstands-wort) **Adverb** ادورب( ښکله والي وی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- لوکال – یا ځاییز- ادورب: (یو)چېرته، ، کېن، هلته، دلته، مخته، هرچېرته یا هرځای، دباندې او نور

-- تمپورال - د وخت ادورب: تل، تراوسه، له هغې، هېڅ (کله)

-- مودال – د ډول(رقم) ادورب: ښایي، په خواشینی، ټیک،، کم، ډېر، کله کله......

-- کوزال – د لامل ادورب: له دې امله، له دې سره، د دې لپاره

پرونومیال – حالت لپاره ویونه: په دې، ترڅ، داسې چې، (په ) څه باندې

ناټاکلې پېژند نخښه ( د نر-ښځېوالي لپاره): یو، یوه

(Zweilaut) **Diphthong** دوه غږیز: یو دوه غږیز له دوه بېلابېلو غږلرونکو څخه لکه یو، دوه، بیا او نور.

(Befehlsform) **Imperativ** امربنه: کښېنه! ولوله! وخوره! چپ اوسه! ځان بدل کړه!

(Wirklichkeits-form) **Indikativ** رېښتین بڼه:نړۍ ښکلې ده. انسانان مري.

(Empfindungs-wort) **Interjektion**احساساتوی: ای، اوهو ، وی، پوو.

## **Transitivität** ( له لاتین *trānsitiō* ) ترانزیتیواو اینترانزیتیو

ترانزیتیویتي( له لاتین څخه: اخوا تلل یا پورېوتل، اوښتل)

پیل یادونه: زه دالیکنې له الماني ادبیاتو رانیسم. کېدی شي ډېر د سمونونو څه یا په کې وي په کې دي. دا ډېر کار دی، کېدی شي دا ښه شوی وي، خو دا هم تاسو ښه کولی شی، نو مرسته مو مه سپموئ.

ترانزیتیویتي( له لاتین څخه: اخوا تلل یا پورېوتل، اوښتل. زه ګوره اوړېدل نه لیکم، چې هغه لوربدلون ته وایي، دا په دې پرېپوهېدنه چې له یوې لور بلې ته اوړي. لور بدلوي) یو ژبلاریز خوي دی، چې و یوه کړنوي یا په ټولیزه توګه یوه جوړښت یا یوه غونډلې ته لیکل کېدی شي. ترانزیتیو مخ ته لرو، که په غونډله کې هم سبجکت او هم یو( سیده) ابجکت و مخ ته ولرو یا همداسې له یوه کړنوي وغوښتل شي. intransitiv اینترازیتیو هغه جوړښتونه همداسې کړنویونه بلل کیږي، چې سیده شی نه لري. که دوه شیان مخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولرو، نو دا جوړښت همداسې کړنوی ditransitiv دیترانزیتیو( دي دوه ته وايي) بلل کيږي.

بیا:ترانزيتيو او اينترانزيتويا کړنيز – اوکېدنيز کړنوييونه او  يا لازمي او متعدي: که رېښتيا ووايم، نو په لازمي او متعدي باندې نه پوهېږم او په دې هم نه پوهېږم، چې کوم يې لازمي او کوم متعدي دئ او دا څه پرېپوهېدنه لري، خو داالماني يې ګورم، نو دا يو يې کړل کيږي او دابل يې کېدلکيږي( داپه دې پرېپوهېدنه چې نه کړلکيږي)، نو ايا دابه کړلکېدونکي(کړلکېدونی) او کېدونکي(کېدونی) نه وي؟ او که غواړئ خوزند او ناخوزند.

بیا يې پېژند: هغه کړنوويونه ترانزيتيو دي، چې د سبجکت په څنګ کې ابجکت هم لري ( دوه ارګومنتونه ). اينترانزيتيو يې په مخامخ يو سبجکت بسيا کوي، داپه دې ترې پوهېدنه، چې دايوه ابجکت ته اړتيانه لري( يو ارګومنت) چې يوه غونډاله  ترانزيتيو يا اينترانزيتيو دئ، کېدی شي له پرېبوهېدنې څخه يې وپېژنو. او د کړنوي له جوړښت څخه هم پرېپوهېدی شو، چې کوم يو وی ترانزيتيو يا اينترنزيتيو دي.

د دې لپاره بېلګې:

سپوږمۍ ډوډۍ پخوي(ت)، ډوډۍ پخيږي(اېنت)

سپين کتاب لولي( ت ) .   کتاب لوستل کيږي(اينت).

د ترانزيتيو پښتو پرېپوهېدنه: اخوا تلل يا پورېوتل ( لکه له يوې پولې).

زموږ ځوان ژبپوه ښاغلي کامران منګل په خپل کتاب کې د دې لپاره ليږند کړ ليکلی.

زما پرېکړه: د دې لپاره موخور بلل: کړنيز کړنوی او کېدنيز کړنوی يا کړونی کړنوی او کېدونی کړنوی. د دې لپاره اړتيا نه شته، چې موږ دې د ت او اينت لاتين ويي پرېپوهېدنه وليکو. دا د ما د وړانديز نومونه هغه څه سيده په ګوته کوي يا ښايي.

په ټولنه کې: پلار او ځوی يا ځوي او پلار ترانزيتيو دي او ورو او بل ورو دا اينترانزتيو دي. له بل ته سيده تلل او له يو بل ته ناسيده تلل دي.

په ژبلار کې د ترانزيتيويتي د روښانونې په هکله نه هم انديزوالی له بېلابېلو درسي اندونو له لارې هم منځ ته راځي. دلته د ښوونځي ژبلار اود ټوليزې ژبنيز ژبلار ي سره مخامخ ليدلور.

**ترانزيتيويتي د ښوونځي په ژبلار کې**

په ورځني ښوونځي ژبلار کې به ترانزيتيويتي د يوه ويي پر خوي باندې، چې د څنګه والی يا حالت اکوزاتيو واکوالی ولري، پيژندل شوي يا يې پېژند ورکړ شوی. د دې له مخې يو کړنوی ترانزتيو دی( چې ،،موخه ور،، کړنوی هم بلل کيږي)، که د هغه يو مللوبغاړی څنګه والی يا حالت اکوزاتيو ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښوونځي په ژبلار کې توپیروننخښنه په پاسیووالي کې ده. یو کړنوی د دې له مخې ترانزیتیو دی، که د پاسیومخ ته تګ په لور کارول کېدی شي، چې له هغې سره (اکوزاتیو - ) ابجکت یا شی سبجکت کیږي.

بېلګه: هغه پیسې لیږي – دا پیسې د هغه لخوا ولېږل شوي

**په ژبپوهنه کې ترانزیتیویتي**

په ټولیزه ژبپوهنه کې د دې ( د ښوونځي ژبپوهنې له مخې) په څېټ لړ روښانه شوی. په دې ترڅ کې چې د ښوونځي ژبلارې له مخې اکوزاتیو د د ترانزیتیو ټاکنو پېژندنخښنو په څېر په چوپړ کې دی، نو په ژبنیز لیدلور کې د اکوزاتیو منځ ته راتګ د یوه جوړښت ترانزیتیو خوي په څېر راوړل کیږي. په ژبپوهنه کې څنګه والی ، حالت یا کاسوس په سر کې یې پېژند د ترانزیتیویتي له مخې ورکول کیږي. له دې سره د هغو ژبو لپاره هم لار وازه ده، چې اکوزاتیو ( لکه Ergativsprachen ) نه لري او کېدی شي د تراتزیتیویتي پېژند ورکړل شي.

دا موضوع ډېره څېړنه دما لپاره هم ستونځمنه ده. ډېر څه لري، خو هغه له وتونژبې څخه یې را استل وموخه ژبې ته لږ څه ډېریږي او پېچلي کیږي هم.

لنډ ښوونځي کې اکوزاتیو او په ټولیزه ژبپوهنه کې بې له اکوزاتیو هم پېژند لري.

**خو د دې لپاره به بېلګه راوړم:**

**سپي پولیس وداړه.**

**پام، سپی داړي.**

**دا دویمه غونداله یوه ټولیزه پرېپوهېدنه لري، دویمه یو ځانګړی حالت روښانه کوي.**

نورې بېلګې: کوچني غاب مات کړ(ت). غاب ماتیږي یا غاب مات شو(اینت)

مور مړی پخوي(ت)، مړی پخیږي(اینت)

لمروړانګې د واورو سړې ویلې کوي(ت). د واورو سړې ویلې کیږي(اینت).

کړلکیږي او کېدلکیږي یا کړنیز او کېدنیز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رکتوس او اوبلیکوس یا ولاړ او پروت حالتونه.

پیل یادونه: ما په ډېرواره حالتونه لیکلي، هغه هم په دې د پښتو حالتونو کې خوندي دي او د پښتو حالتونه له الماني څخه توپیر لري. ما پخپله ډېرې لیکنې په څلورو حالتونو کړي او اوس به دا په پښتو کې حالتونه وڅېړو:

په پښتو کې دوه حالتونه شتون لري. رکتوس او اوبلیکوس

Ca|sus rec|tus,د رکتوس – یا ولاړ حالات

ویي پېژند: ژبنیز نومیز Nominativ ولاړ حالت کلیمي سرچینه: لاتین "casus rectus" ،،نبغ، ولاړ حالت یا څنګه والی،، ، همغه پرېپوهنیز یوناني "ptōsis orthē" مخ ته لرو.:

مخامخ ویي یی Casus obliquus اوبلیکوس حالت دی.
نومیز حالت رېکتوس حالت دی: دا کړونی حالت دی، چې له دې امله ولاړ حالت هم ورته ویل کیږي.

— په بنسټیزه توګه دې ته مخامخ یا برعکس او دې نورو حالتونو ته کاسوس اوبلیکوس دی، چې څنګیز، ننوتي، پروت، ... حالت دي.

**Casus obliquus (Deutsch)اوبلیک څنګه والی:**

ویی ترېپوهېدنه/ پېژند:

۱ – ژبنیز: نه ولاړ -، پروت –، ننوتی – ، وتلی او یا کوږ څنګه والی (حالت). له دې امله به بسیا وکړي، که پروت حالت یې وبولو.

اوبلیکوس یا پروت څنګه والي دا لاندې څنګه والي خوندي لري:

بلواک څنګه والی: جینیتیو، داتیو، اکوزاتیو، ابلاتیو او دا اوس هم غږیزد کلیمې بنسټ: له لاتینبلواک حالت یا – څنګه والی، چې یوناني ترېپوهېدنه یې هم همدا ده بلواک کازوس، اوبلیک کازوس، ناولاړ، زوړند یه پروت څنګه والی. ۱ – کازوس اوبلیک جینیتیو، داتیو او اکوزاتیو دي. دا مې په بل ځای کې څېړلي، چې په پښتو کې نور څنګه والي هم شته، لوریز،.. د پوره څرګندونې لپاره دې هلته وکتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورو حالتونو لپاره مخ ته ځو:

یادونه: که دا لاندې بیا هم راغلي وي، لوستل يې بد نه دي.

Enklitische Pronominaاینکلیتیکي نومځاينيوي.

اینکلیتیکي نومځاينيوي يوه کيدنه لري، چې له یوه کړنوي سره ورزيات يا ورسره ونښلي يا ورسره ويلې شي. کړنوی + ځانيز پسې تړی. ډېر زيات د خبرو ژبه همداسې په شاعرۍ کې منځ ته راځي. په ډېرو لیکنیزه ژبه کې ترې ډډه کيږي يا دا د کړنوي سره یوځای په یو بل کې سره وېلې یا ولې شوي، چې یو نوی ویي منځ ته راوړي چې د دې تړنې سره پرېپوهېدنه هم پوره کوي.

د بېلګي په توګه: اینکلیتیکي نومځاينيوي د یوه شي دنده لري، که دا یوه کړنوي سر ورزيات شي.

ګډوله کونه

– کړنویي + ځانيز پسېتړی په وېينژبه او لیکنژبه کې مخ ته راځي او همداسې بله برخه يې

– ځانیزمختړي نومځاينيوي یا اینکلیتیکي نومځاينيوی + کړنوی، چې دا دواړه به لږ د څېړنې لاندې ونیسو.

دا نومځاينيوي، نو څنګه روښانه کړو، چې کوم دي؟

که غواړې عکسونه درته ښايم. که غواړې وتا ته عکسونه ښايم.

دا نسبتي وی و پسې ځاینیوی یاپوستپوزېشن ،، ته،، ته یو اوبلیک دی. او د الماني داتیو څنګه والي ته انډول دی او له دې سره د پوست پوزېشن په څير د موخه لور (چېرته) دنده لري. بیلګه: و کور ته ځم.

پرمېز(حالت) باندې (اړیکوی) د انګورو (خاوندوالی حالت) له جنډې ( حالت) څخه (اړیکوی) انګورو (نوم) له ځان(حالت) سره ( اړیکوی) وتا( حالت) ته (آړیکوی) درووړه.

ګورو، چې ټول اړیکویونه پسځاینيوي یا پوستپوزېشنونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مې تر اوسه پورې سنترپوزېشنونه بلل، چې ناسم دي او دا پر، په او نور چې راځي، دا د حالتونو مورفېمونه دي، لکه ،،د،، د خاوندوالي مورفېم.

د اینکلیتیکي نومځاینیوي څلور دندې: زه دې، ته مې، هغه مو، دا يې....

دا څلورواړه په یوه ګډوله یا لړۍ څنګیزه غونډاله کې

زه دې دلته راوغوښتم، چې ته مې ولیدې او هغه مو، چې ولیده دایې وویل:

## لوریز نومځاینیوي

لوریز نومځاینیوي: نومځاینیوي را، در، ور یوه لور غوره کوي، نو له دې امله لوریز نومځاینیوي.

لرو: ـ (را، در، ور) (سره،څخه،کره، ته، پورې، کې، باندې،...)

په پورته کې په لومړي نوکانو کې نومځاینیوي دي او په دویم کې اړیکویونه یا پسېځاینیوي دي، چې په نومځاینیوو پسې تړلي راځي. دا بیا داسې همم لیکلی شو:

له ما، له تا، له موږ،له هغه......سره(څخه، کره) ، وما ته، وتا ته، وهغه ته، پر میز باندې یاپر هغه باندې....په کور کې

ـــــ داسې له یوه تورې جوړ نومځاینیوي شته، موږ چې یو څه کوو، په پای کې د هغه کړونې پسې نومځاینیوی( انکلېتیکي نومځاینیوي بلل کیږي( په لیکنه کې یې پېژند شته)) ورزیاتوو یاورسره نښلوو

بېلګې یې: ځم، ځو،ځې ، ځۍ، ځي( د دریم کس ن، ښ یو او ډېرو لپاره ).

دا یو وییېزې یا له یوه ویې جوړې پوره غونډالې دي.

ــــ له بلې لور له داسې کړونو سره دا را، در، ور نومځاینیوي مخ ته تړل کړي او کړنویې پسې هممهال دا د ـــم، ـې، ـۍ او نور هم تړل کیږي او داسې یووویيزې پوره غونډالې جوړوي: درځم، راځي، ورځم او نور. دا به د روستاړو او مختاړ او ـــ مشوره. څنګه ونوموو. دا لوریز نومځاینیوي، کړنویې سره د مخه تړلي او پسې تړلي یې دا اېنکلییکتیکي نومځاى نیوي دا یوه کړنوویې او دوه وو نومځاینیوو سره په ګډه یوه یوویېز هغونډاله جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: په دې هکله مې – د ما نوې میندنې کې- هم پوره لیکنه شته

ابلاتیو (Ablativ (Deutsch

ویې پېژند: لاتین ژبلار: ابلاتیو د پرېدیکات نږدې پېژندنې ټاکلو په چوپړ کې دې. دا حالتونه ورکوي، چې د هغو لاندې کړنه کیږي. دا داسې کارول کیږي
Ablativus instrumentalis اله ییز ابلاتیو: د پوښتنې په ځواب کې:،، له څه یاڅه شي سره،،؟ ، ،، د څه له لارې څخه،، ؟، ،، له چا سره یوځای،،؟

– Ablativus separativus د بېلېدنې ابلاتیو: د بېلېدنې ابلاتیو پوښتنې ته دی، چې : له کومه څخه،،؟ ، ،، له څه څخه،،؟

Ablativus comparationis

د پرتله کونې ابلاتیو له و چا ته یا نسبت و چا ته سره

Ablativus limitationis

د کلیمې د رابندونې ابلاتیو په پوښتنه،،په کومه اړیکه کې،،؟

Ablativus locativus

ځایټاکنیز ابلاتیو و پوښتنې ته ،، چېرته،،؟

Ablativus temporalis #

د مهالټاکنې ابلاتیو و پوښتنې ته ،، کله،،؟ ، د،، د کوم وخت په دننه کې،،؟

Ablativus mensurae
ست- یا ډېرئ – یا څومره والي ورکړه، و پوښتنې ته ،، په څو،،؟

Ablativus qualitatis

د څنګه والي یا خوي ابلاتیو.

له ،، د ،، سره خاوندوالي جوړونه: دا ،، د ،، په ځنو ادبیاتو کې د خاوندوالي مورفیم بلل کیږي او ځنې یې بیا په بلابېلو لاملونو د مخځاینیوی( پرېپوزېشن) بولي، خو دا چې دا یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورفیم دۍ او خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري، نو دا د خاوندوالي مورفیم یې سم دۍ. بېلګه : د کور ښکلی باغ.

Vokativ  د غږ کولو حالت

په پښتو کې د غږکولو په حالت کې د ناغږېزو تورو پسي یوه ،، ه ،، تړلکیږي( دا خو ځانله د دې سره نه دی، د نور لکه ی سره هم راځي) او نورو ته دې یې په ګډه فکر وشي.

بېلګې: ورور، وروره،

سړی، سړیه

ملګری، (اې) ملګریه.

د ښځینه وو لپاره :

بېلګې: مور، مورې،

خور، خورې

د ډېر لباره په ټولیزه توګه باور لري، چې غږیز/ ډېر = اوبلیک/ډېر

بېلګې: ګران ملګري، ګرانو ملګرو!
ښخې/ (اې) ښځو!

پسې نومځینیوي د خبرو دې، خو ما په دې هکله پوره لیکنې کړي، نورې نه پرېکوم، خو ستاسو پام یواځې د ې ځنې ځانیزو نومځاینیوو ته رااړوم.

زه، ته، هغه، ما، تا، هغه، او نور

په دې ټولو حالتونو پوره خبرې شوي.

Demonstrativpronomina (اشاري نومځاینیوي)

اشاري نومځاینیوي ( رکتوس)

دا، دغه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور اشاري نومځاينيوي: هغومره، دغسی، داسی، داسی، همدا، همداسې، همدغسې ...
دومره ، هومره، دومره...څومره داسی، داسی، همدا، همداسې، همدغسې دا،
دغه،دغې،هغه،هغې

لوريز نومځاينيوي: د اړيکويونې سره دا لوريزې توتې د پوستپوزېښن د لوريزنومځانيوو
کيږي. سره تړاو يا تړنه.

دا لوريزې توتې : را، در، ور دي، چې د پرېپوزېشن په څېر د اړيکويونو په څېر د
کړنوييو سره نښلي يا ويلي کيږي. يو څو بېلګې...

پوښتننومځاينيوي:

څوک، چا، څه، څو، څومره، کوم...څومه، څنګه، څرنګه

Indefinitpronomina ((ناټرلی نومځاينيوي

څوک،څه، څو، کوم، يو شی، يو څوک، يو چاته، د يوهچا، څومره، ځنې، هر، ټول، نور،
هېڅ

په ژبلار يا ګرامر کې ناټرلي ياخپلواک نومځاينيوي د نومځاينيو لاندېډله جوړوي(برخډله
مې ليکله وه، خو د لاندېډلې او برخډلې په منځ کې مې توپير ته پام نه وو). د و ي دوي مو
يوګونو يا افرادو ته پام اړوي، چې د هغوي ايدنتيتي له نږدې نه ده ټاکل شوې يا د ناټاکلې
ګڼون ( تعداد) افرادو همداسې په افرادو ( يوګونو کسانو) باندې شتونوينا کوي.

Indefinitpronomen mit vorangestellten Wörtern

ناټرلي نومځاينيوي د مخ ته تړلو وييونو سره:

هېڅ څوک، هرڅوک، لږڅه، يو څه ، يوڅوک

Unbestimmter Artikelناټاکلې پېژند نخښې (ن،ښ)

۱ – رکتوس: (ن،ښ)يو، يوه

۲ – اوبليکوس: ( ن،ښ) يوه، يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: ۱ – داپورته داسې برېښي، چې ګوندې د بېلګې په توګه یوسړی راغی. یوه ښځه راغله او

۲ – یوه سړي وویل. یوې ښځې وویل.

دا دواړه حالتونه کړوني دي او د پښتو ژبلارې له مخې او د رکتوس او اوبلیکوس د پېژند له مخې باید رکتوس وي، نو اوبلیکوس به یې څه وي؟

اوبلیکوس: له یوه سړي. له یوې ښځې. دلته له د یوه مورفېم په څېر راغلی، یو پروت حالت دی.

دا موضوع هم دما نوې مخامخونه ده. له دې د مخه ورسره نه وم مخامخ شوی، نو د څېړنې او د خبرو به پوره څه په کې وي.

موږ د نورو ژبو څخه ګټه اخلو، په زیاتو ځایونو کې د نورو ژبو څخه ګټه اخستل کېدی شي، خو سره ورته ژبنیزې لارې سره نه لري.

په فارسي کې: مېرم.. او نور، مادرم، ...، او نور

په فارسي کې بیا خاوندوالي هغه نومونو لپاره، چې پای یې ببغږه توري وی، -م،-ت،-ش پسې تړلي او که پای یې غږلرونکي توري وي، نو بیا پسې -یم، -یت او –یش پسئ تړلي دي.

په پښتو کې: ځم، ځو، ځي، ځئ ... او ور خو موږ مې (دې، یې) په پښتو د کړنوي پسې، م،ې، ي تړلي او د خاوندوالي نومځاینیوو پسې بیا مې، دې، یې مو د مخه وڅېړل.

د دې یو لامل دا کېدی شي، چې په پښتو کې د ګړنوي اخر کې دا ورسره زیاتېدنه دکړنوي پسې تړلی یا سره ویلې شوې شته، خو د خاوندوالي نومځای نیوي خپلواک شته دی او په درې کې دا نه شته یا داسې نه دي.

دا نور نومځاینیوي به د څنګه والي یا حالت نومځاینیوي وبولو او ګورو، چې د اینکلیتیکي نومځاینیوو سره توپیر لری.

Vokativ (د غږ کولو حالت

یو چاته څه ویل یا ورته غږ کول په پښتو کې د یوه ځانګړي غږبنې په څېر جوړیږي. په ټولو نارینه نومونو کې، چې په زور اچوونې ی پای مومي په پای کې ه پسې نښلي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نارینه نوم  پورې چې زور پرې نه اچول کیږي، چې په پای کې يې ييې پسې نښلي. په دې باندې نور زیاته یکنه نه کوم، خو یو دوه بېلګې راوړم. دا نور چې کوم اخر توری په څه بدلیږي او یا څنګهکیږي ، هغهتاسو راپیداکولی شی. لرو. خمری. غږ: څمریه. لرو: خوږه، غږ: خوږې مالی بیا هم ملالی. هغه لارې هم تاسو ورته ولیکی.

## Reziproke مات

رامات شي حالتونه د ،،یو،، او ،،بل،، له لارې یا سره جوړیږي. بېلګې: یو له بل سره. یو له بل څخه. یو وبل ته او نور.

## Interrogativsatz  پوښتنغِونډاله

پېژند د اوکسفورد ژبې څخه: اینټېروګاتیو غونډاله څه ده؟
پوښتنغونډاله ( **Interrogativsatz** یا Erotema ) یوه غونډاله ده، چې د هغې دنده تیپیکي پوښتنکونه ده. د پوښتنې ویېنډول د دې په چوپړ کې دی، چې یو معلوماتي ځواب ترې لاس ته راوړو. پوښتنغونډاله داسې ده، لکه ویناغونډاله او غوښتنغونډاله، یو د غونډالې ډول.
د اینټروګاتیونومځاینیوو او نسبتي نومځاینیوو په منځ کې څه توپیر دي؟
Relativpronomen یا تسبتي نومځاینیوي د نوموېو په ځای کارول کیږي. دا یوه غړېغونډاله ( نسبتي غونډاله) لاربنودوي او  د  یوې په سر یا پورته ترتیب شوې غونډالې یوه نوم(یا نومځاینیوي) نښلوي یا تړي. اېټروګاتیو نومځاینیوي یوهېپوښتنغونډاله (اینټروګاتیو غونډالې) لاربنودوي او د غږکونې غونډالو په څېر هم کارېدلی شي.

**بېلګې؛**

**کتاب، کوم چې زه يې لولم، سترېکېدونکی دی.**

دا د باور نه دي، څه چې ته ماته وایې.

اېټروګاتیو غونډالې پوښتنغوډالې لاربنودوي، کېدی شي دغږغونډالې پهڅېر هم راشي.

بېلکه: چا به دا فکر کړی وی!

ځنې نومځاینیوي کېدی شي نسبتي – او اېټروګاتیونومځاینیوي وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلكه: څوک،چا، څه (شی)، کوم،کومه، یوڅه لپاره.

دا کېدی شي چې وکارول شي.

اینتروګاتیو غونډاله – ناسیده پوښتنغونډاله.

۲ - ښونکی زدکونکي پوښتي، چې چا دا کړکۍ ماته کړې ده.

۲ – شونکی زدکونکي پوښتي، چې ایا له دوي څخه کوم دا کړکۍ ماته کړې ده. اینتروګاتیو غونډاله( ناسیدهپوښتنغونډاله) یوه څنګغونډاله یا که غواړئ څنګیزه غونډاله ده. د پوره کونکې پوښتمې په څېر(۱-) څنګغونډاله د یوې پوښتنغونډالې په څېر پیل کیږي. د پرېکړه غونډالې په څېر(۲ -) دا د ایا له لارې یا سره پیل کیږي.

یادونه: پهدې ټولو لیکنو کې کمښت شته، چې باید تل ګران لوستونکي یا ډېر کار پرې وکړي.

د اېنتروګاتیو غونډالو برخکلیمي

۱ – غبرډولیزه پوښتنغونډاله، ۲ – پرېکړ ییزه پوښتنغونډاله، پوره کېدونکې پوښتنغونډاله.

بېلګې:

۱ – یوه پوښتنغونډاله ده، ، چې ټیک د غبرېدونکې د معلومات کنډو یا تشیا خوندي لري، او دا هممهال د خبرو و مل ته انځوروي، چې دا تشیا ډکه کړي.

( ۱ ) غونډاله: ،،( ایا) ته نن راځې؟،، یوه اېتروګاتیو غونډاله ده.

( ۱ ) اېتروګاتیو – یا پوښتنغونډاله د له غونډالنخښې،،؟،، سره په نخښه کیږي، که دا یوه سر – یا بنستغونډاله وي.

(۱) ځنې پوښتنغونډالې د پوښتنغونډالې پهچوپړ کې نه دي، دوی(یو څه ته ) رابلنغونډالې دي، لکه د بېلګې په توګه،، نه غواړې تر اخره(بلاخره، یا بالاخره( رېښتیا نه پرې پوهېږم. په بخښنه)؟؟) راشې؟،، یا ،، بیا هم یا تر اخره نه غواړې راشې؟،،

یادونه ( هیله ده، چې راته برګ نه شئ): موږ د ډېرو ویپونو سره نابلد یو یا د خپلې پښتو سره نابلد یو، خو ایا د،،بالاخره،، په ځای ،، بیاهم،، ، ،، په پای کې تر پایه،، یا ،، تراخره،، که وکاروو، نو موخې ته رسېږو. نابلدي هم

## اېنکلیتیکي نومځاینیوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: ډلتهتکرار شته، خو لوستلیې ګټور بولن.

مورِ د نورو ژبو څخه ګټه اخلو، په زیاتو ځایونو کې د نورو ژبو څخه ګټه اخستل کېدی شي، خو سره ورته ژبنیزې لارې سره نه لري.

په فارسي کې: مېرم.. او نور، مادرم، ...، او نور

په فارسي کې بیا خاوندوالي هغه نومونو لپاره، چې پای یې بېغږه توري وی، -م،-ت،-ش پسې تړلي او که پای یې غږلرونکي توري وي، نو بیا پسې -یم، -یت او ـــیش پسې تړلي دي.

په پښتو کې: ځم، ځو، ځي، ځئ ... او ور خو مورِ مې (دې، يې) په پښتو د کړنوي پسې، م،ې، ي تړلي او د خاودوالي نوځاینیوو پسې بیا مې، دې، یې مو د مخه وځېړل، چې د فارسې بیا د خاوندوالي نومځای نیوي، ګډ..؟؟؟؟؟؟؟؟؟

د دې یو لامل دا کېدی شي، چې په پښتو کې د ګړنوي اخر کې دا ورسره زیاتېدنه دکړنوي پسې تړلی یا سره ویلې شوې شته، خو د خاوندوالي نومځای نیوي خپلواک شته دئ او په درې کې دا نه شته یا داسې نه دي.

دا نور نومځاینیوي به د ځنګه والي نومځاینیوي وبولو او ګورو، چې د اینکلیتیکي نومځاینیوو سره توپیر لری.

### اینکلیتیکي **Enklitische Pronomina** نومځاینیوي.

یادونه: دا تکرار دی، خو شاید لږ څه نوي ولري، بیا هم که زه سهوه وم بخښنه به وي.

اینکلیکي نومځاینیوي یوه کیدنه لري، چې له یوه کړنوي سره ورزیات یا ورسره ونښلي یا ورسره ویلې شي. کړنوی + ځانیز پسې تړی ډېر زیات د خبرو ژبه همداسې په شاعرئ کې منځ ته راځي. په ډېرو لیکنیزه ژبه کې تري ډډه کیږي یا دا د کړنوي سره یوځای په یو بل کې سره وېلې یا ولې شوي، چې یو نوی ویي منځ ته راوړي چې د دې تړنې سره پرېپوهېدنه هم پوره کوي.

د بېلګې په توګه: اینکلیتیکي نومځاینیوي د یوه شي دنده لري، که دا یوه کړنوي سر ورزیات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډوله کونه

- کړنويي + ځانيز پسېتړی  په وينژبه او ليکنژبه کې مخ ته راځي او همداسې بله برخه يې

- ځانيزمختړي نومځاينيوي يا  اينکليتيکي نومځاينيوی + کړنوی، چې دا دواړه به لړ ترڅېړنې لاندې( دلته مې،، تر،، ليکلی، خو ناسم دی. سم يې ،، د ،،)   ونيسو.

دا نومځاينيوي، نو ښنګه روښانه کړو، چې کوم دي؟

که غواړې عکسونه درته ښايم.  که غواړې وتا ته عکسونه ښايم.

## د کاسوس رېکتوس او –اوبليکوس کارونه

کاسوس رېکتوس د نوميز او اکوزاتيو حالت لپاره د اوسمهال لپاره کارول کيږي. يوه ځانګړنه شته او هغه داسې ځانيز نومځاينيوو کې  اوبليکوس د الماني و اکوزاتيو ته کارول کيږي. کاسوس اوبليکوس تل کارول کيږي، که يو ادپوزېشن په نوم تکيه کوي.  ځانګړنې په پوستپوزېشنونو کې شته، چې ،، کې، باندې، ته، د پاسه، زيات په رکتوس کې وکارول شي. کاسوس اوبليکوس د تېروخت بڼه کې نوميز حالت کې هم کارول کيږي.
يادونه: دلته دې اندونه سره ګډ شي.

## Anwendung

دا نسبتي وی  و پسې ځاينيوی ياپوستپوزېشن ،، ته،، ته يو اوبليک دی. د الماني داتيو ښنګه والي ته انډول دی او له دې سره د پوست پوزېشن په څير د موخه لور (چېرته) دنده لري.

بيلګه: و کور ته ځم.

پرمېز(حالت) باندې (اړيکوی) د انګورو (خاوندوالی حالت) له جنډې ( حالت) ښخه (اړيکوی) انګورو (نوم) له ځان(حالت) سره ( اړيکوی) وتا( حالت) ته (آړيکوی) دروړه.

ګورو، چې دلته ټول اړيکويونه پسې ځاينيوي يا پوستپوزېشنونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مې تر اوسه پورې سنترپوزېشنونه بلل، چې ناسم دي او دا پر، په او نور چې راځي، دا د حالتونو مورفېمونه دي، لکه ،،د،، د خاوندوالي مورفېم.

له دې ځایه وروسته لیکنې د ښوونځي له سطحې پورتهدي، خو بیا دې هم له تاسو سره ګډې وي.

**سیمانتیکSEMANTIK**

سیمانتیک د ژبې برخه ده، د ،، نخښو،، پوهنې سره سر او کار لري، چې دلته دا نخښه د ویي ، کلیمې او د ژبې د ټولو برخو لپاره ځایناستې ده.

په ژبپوهنه کې داسې په نامه سیمانتیک د پیداښتې ژبې – دا هغه ژبه چې مور. یې پېژنو او هغه د ژبې په څېر راوړو

چې څه به په سیماتیک کې و څېړل شي

په سیمانتیک کې د یوه ویې، د یوې نخښونې او یوې غونډلې په پرې پوهیدلو لومړیتوب لري. که د بېلګې په توکه یو بې موخې یا ترې ناسمپوهېدنې غونډله جوړه شي، کېدی شي د سیمانتیکي څېړنو په بنسټ د ،، بې موخې،، په بڼه په نخښه شي.

که څوک د یوه شي ژبنیزه پرېپوهېدنه غواړي وڅېړي، هغه تل د سیمانتیک سره بوخت وي.

سیمانتیک په نوې مېدیا کې

په دا اوس وخت کې سیمانتیک د برېښنا لټونماشینونو ښه والي کې هم یو غوره رول لوبوي. دا لټونماشینونه د یوه وي یا ویبرخو په مرسته یا لاس په پای کې کره میندي، چې پلټونکی یا لټوونکی یې لټوي او د دې په مرسته له ډېرو خپلوانو کلیمو سره تړل کیږ.ي.

ډاکتر ماخان میر.ی شینواری

## لنډ: پښتوته ناسم رااننباسلشوي ویونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له ژبپوهانو څخه هیله

پیل یادونه: په لیکنه کې نوي د بام وړ څه هم شته، چې پام مو ورته رااوړل غواړم.

دا لیکنه داسې لنډه، بې له اوږدې شننې راوړم .دا ټولې لیکنې د تاند او دعوت په منلو خپرونو کې خورې شوي او هلته کتل کېدی شي او په ketabton. com زما په همدې نامه کتاب کې راټولې شوی دي.

څنګه پوهېږو، چې دا یا هغه ویې یا غونډاله ولې ناسم دي؟

لومړی :یو نوم، یو وی یا کومه غونډاله، چې د هغه ورکړ شوي نوم یا بل څه اړونده خوي ونه لري، ناسم دی.

بېلګه: اوبلن د بهېدونکو په ځای.واورې اوبلنې کېږي، خو اوبه، شړومبې، شیدې نه اوبلنې کیږي، دا بهیږي او له دې امله بهېدونکې دي. دا مو تل په ورځنې ژبه کې لروده، خو بیایې هم اوبلنوو.

دویم :یو نوم یا بل کوم وی او یا د کومې غونډالې لیکل، چې ټولیز نه وي او ټولیز کېدی نه شي، ناسم دی.

بېلګه: ی او ئ دا د یوه غږ لپاره، چې په دوه بېلابېلو بېګانو لیکل کیږي، نورو بېګانو ته نه ټولیز کیږي یا نه دی ټولیز شوی. نو دا ،، ی،، بسیا کوي یا همدا شته او دا بله ،، ئ ،، په پښتو کې نه شته.

دریم : هغه نومونه یا ویونه، چې د ژبلارې سره په مخامخوالي کې راځي. همدا د یوه غږ له پاره دوه بېګانې او یا د سلم لپاره سلن راوړل، هغه د پیداښت بدلولول دي او ناسم.

څلورم :د هر څه د سم او ناسم له پاره، چې ښوونیز دلایل راوړل کیږي، باید له مخامخوالي خپلواک یا ازاد وي

پنځم: بیا د پورته لنډ :پوهنیز دلیل کوم دي؟ هغه دلیل، چې له مخامخوالي خپلواک یا ازاد وي.

بیا داسې پیل کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو : سلن نه شته :د سلم له پاره سلن راوړل ناسم دئ .دا د ژبې او شمېرپوهنې له لاري او ټولیز هم نه دئ او دا دې هم په یاد وي، چې دا سلنه شلکلن له ۲۰۰۱ څخه ناسمون دئ، له دې د مخه دا ناسمون نه وو.

دوه :اوبلن : دا هم ناسم د بهیدونکو له پاره کارول کیږي .اوبلن یواځې او یواځې د واورو خوي دئ او بس.

درې : تر : په ټولو هغو ځایونو کې تر ناسم دئ، چې داسې نه وي:

دې لاندې دوه غونډالو ته پسې یادونه وګورئ. په اند مې دلته دما پرېکړهیا قضاوت هم باید بدل شي.

لومړی اړیکوی : له جلالکوټ څخه ترکابل پورې.

دویم تړنوی :په کوټه کې ۲۰ تر ۳۰ کسانو پورې ځاییږي.

دریم د مهال یا یو څه پای : تر نه بجو پورې درځم

بیا : پرته له داسې غونډالو، په بل هر ځای کې ،، تر ،، ناسم دئ.

یادونه : د ما په نوې څېړنه کې د ،، تر ،، مختړی د نومځاینیوي سره د حالت یا څنګه والي په څېر د نوم اوښینوم سره مل راځي، دا په دې پرېپوهېدنه چې د یوه حالت په بڼه راځي او ،، تر ،، کومه خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري. یوه بېلګه راوړو:

له ما څخه تر تا پورې. په پورته ،،له ما،، او ،،ترتا،، حالتونه دي، ،، څخه،، او ،، پورې،، اړیکویونه داسې په نامه پسې ځاینیوي دي، چې له امله یې ،، له،، او ،، تر،، خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري. بیا هم دا ،، تر،، یواځې او یواځې د همدې اړیکړي ،، پورې،، سره راځي او نور ځایونو کې ناسم دئ.

څلور : له،، تر ،، سره پرتله کونه : دا هم سوچبوچ نه شي کېدی، زما کتاب کې روښانه شوي او دریم هم وګورئ. له بلې خوا ،، تر ،، خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري، نو ورسره پرتله کونه ناسمه ده.

بېلګه: سپین له زرغون څخه ښکلی دئ، خو سپین تر زرغون پورې ښکلی دئ، ناسم دي.

سپین و زرغون ته ښکلی دی. سم او سپین تر زرغون..... هم سوچ بوچ ناسم ئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا: ،، تر،، بې له همدې حالت یاځنګه والي بله پرېپوهېدنه نه لري.

پنځه :ئ : زموږ په پښتو کې داسې ،، ئ، ځای نه لري .دا ژبلار نه ده، چې غږ دې یو او ،، ئ،، دې دوه - یا ان و۱۶ ته هم ر سېدلی شي – وي. ټولیز شوی هم نه دی، چې هغه به یې هم ناسم وی.

شپږ : غونډاله -،،سږکال تر ټولو ډېر انګور شوې،، ، ناسمه ده .. دا هېڅ نه روښانه کوي او همداسې کومه پرېپوهېدنه نه لري.

که ووایو په ټوله کې، دا یو تکیه کلام دی پروا نه لري. په ټوله کې سږ کال ډېر انګور شوي دي یا سږکال خورا ډېر انګور شوي دي یا سږ کال د تېرو کلونو سره په پرتله ډېر انګور شوي دي یا سږکال وتېرو کلونو ته ډېر انګور شوي دي.

اوه :،،تر ډېره بریده یا ... پولې،، او هم یا ،،تر ډېرې کچې،، ناسم دي. ډېر برید یا پوله نه شته، خو له برېده یا پولې ډېر شته.

اته : کچه موږ زیات وخت ناسمه کاروو. د ستاندارد یا معیار، سطحې او سویې له پاره یې کارونه ناسمه ده.

لاندې به یو څو ویونه راوړو، چې نوم او اړیکویونه دي او تل باید په لیکلو کې پام ورته وشي.

.نوره کارونه یې د اړیکوي ده.

نهه :منځ یا منځټکی :یواځې د یوه شي یا یوه څه هندسي منځ باید وي.

نور منځ اړیکوی دی.

لس: مخ .په مخ یې دانه ده .چې پرته له داسې کارونو، چې فزیکي مخ دی، نور کارول یې اړیکویونه دي .مخ - یا مخې ته ، دمخه، مخ – یا مخه کې، خو ترمخه سوچبوچ نه شته او همداسې تر مخکې.( که مخ کې یا ښه یې: مخه کې وي، هغه بیا سړی پرې پوهیږي، خو ،، تر،، ورسره بیا هم ناسم دی) دا تر خو ناسم او دا مخکې هم کلیوالي ویینه ده.

یولسم: همداسې څنګ او شا .په دې پوهیږو، چې کله فزیکي او کله دا فزیکي څنګ او شا موخه ورځخه نه ده. دا نور نه غزوم.

دا هم ناسم دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولسم: روغتون، چې موږ د ناروغانو ځای ته وایو ناسم دی .سم یې ناروغتون، رغنتون یا رغنځی دي. رغنځی بلل یې ماته ډېر ښه برېښي. که وخت یې وي یا راغی، نو دا باید بدل شي.

دیارلسم: د کورنیو چارو وزارت ناموخور دی، موخوریې د دننیو چارو وزارت. د کورنیو چارو وزارت هم باید وي.

څوارلسم: بهاند. دا د بهېدونکي یا بهونکي په ځای راغلی. ښه برېښي، خو ناسم به یې ځکه وبولم، چې دا ترې پوهېدنې یې باید دوه وي. که دچا د کورنی نوم وي، خو هغه یې خپله خوښه، خو په لیکنه او ادبیاتو کې د کاروني لپاره ناسم دی. ژبلار ته دې پوره پاملرنه وي، چې دا تولیز کېدی شي یا تولیز دی او که څنګه؟.

پنځلسم: همداسې بشپړاند، چې نه پوهېږې، دا بشپړونکی دي او که بشپړېدونکی.

دلته مې یو څو بېلګې راوړې، نور په Ketabton. Com کې، که ګران لوستونکي، د دې اونورو سمونونو سره مینه لري.

یوه یادونه :

دا ما ته یوه بابیزه او بې ارزښته لیکنه اوګوتنیونه نه برېښي، دا مو ژبه ده، څوک هم چې دا ژبه ناسمه کاروي، باید سمون ته راوبلل شي

موږ پوهنیز مرکزونه لرو .له هغو څخه غواړم، چې دا په غور وګوري او هر یو چې ناسم وو، دا په دې مانا چې که یو هم، نو دوي حق لري، چې ما ته مناسبه جزا وټاکي او سمه ستره جزا به داوي، چې دوی راڅخه د ډاکترۍ شهادتنامه واخلي او که نه، نو بیا دې راته د ژبپوهنې ډاکتري راکړي، دا پرې ارزي.

او له ټولو لیکلوست خاوندانو هیله کوم، چې د دې پرېکړې ملاتړ وکړي، دا د هر یوه کار دی او ټول د دې ناسمونو سره ګیر دي، د علومو اکادمي د پښتو څانګې او پوهنتونونو پوهنیز کادرونه دې دې کار ته راوبولی .

په پای کې دې د یوې یادونې اجازه وي او هغه دا چې :دا پوهنیزه ځانیونه نه ده، چې په یوه پوهنیزه لیکنه، د سمې او ناسمې پرېکړه وغواړو او موږ ورته چپه خوله پاتې شو، که په هر لامل هم وي .

تاسو ژبپوهان دې پرېکړې ته په مینه رابولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باور وکړئ، چې زما ملګري او پېژندکلوي، چې ښه عالمان او په ژبه کې وتلي کسان دي او سلنه یا بهېدونکو ته اوبلن ووایي او دا ،، تر ،، ناسم وکاروي، ډېر زورېږم .او رښتیا ډېر زورېږم .که دوي ته دا سم برېښي، نو زه به د دوي له پاره هم ارام شم، هغه دې موږ ته دا راوښايي، چې کوم پخواني او کوم جوړشوي دي، کوم سم او کوم ناسم دئ.

موږ کره پښتوپوهان او لیکوالان لرو، چې هغوي هرومرو مرسته کولی شي، چې لږ ترلږه ماته زما د لیکنو ناسمون را په ګوته کړي او دا مرسته راسره وکړ، چې تل به مو منندوی یم.

دتاسو د ټولو له سرې سیني ډېره مننه

## ګرانو ژبپوهانو! راځئ په ګډه يې وڅېړو.

دلته هغه بنسټیزې لیکنبرخې ډېر لنډ:

لومړی: را( در، ور) څخه(-سره،-کره، - کې، - باندې، -پورې، - ته او... نور مې فکر ته نه راځي)

= دويم: له ما سره(-څخه، - کره)، په میز کې، پرمیز باندې، ترتا پورې، وهغه ته. نورو ته یې فکر کولی شو.

د لومړي او دویم له پرتلې څخه لرو: را( در، ور) = له ما (له تا، له هغه). په میز = ور، پر تا = در، تر هغه=ور، وتا = ور.

له پورته څخه لاس ته راځي: له، په، پر، و، تر، کومې خپلواکي پرېپوهېدني نه لري او یواځې د نومیزو نومخاینیوو سره ګډ یا د هغو دمختړو په څېر حالت یاحالتونه دي.

پوښتنه: دا د الماني سره په پرتله داتیو حالت دئ. ایاپه پښتو کې هم داتیو حالت دئ او که دا هر یو یې ځانله یاڅنګه؟؟

نو اوس داپه دې پرېپوهېدنه چې: دلته دا اړیکویونه دي: سره،څخه،کې،باندې، ته، پورې، نور مې فکر ته نه راځي.

دا اړیکویونه په دې برېپوهېدنه دي چې پوستپوزېښنونه یا پسېځاینیوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له انګریزۍ سره په برتله:

ناسم دي چې: له...څخه (سر،کره)، په... کې، و...ته، تر...پورې او نور سرکومپوزېشنونه دي او هغه د انګرېزي from, with, until = څخه، سره ، پورې او نه له...څخه، له... سره، تر... پورې. یا له، تر. دا نور تاسو ولیکی، چې ناسم یې ونه لیکم.

دا د لومړي ځل لپاره داسې لیکنه مې لږ تېروخت غزېدلې څېړلې ده، دا چې سره باوري شو، نو ستاسو لیکنو ته سترګې په لار یم، فکر په کې وکړی.

هیله ده چې اندونه مو ونه سپموی.

## کړندولونه او بدلونونه یې او همداسې ور سره د نومځاینیوو بدلونونه.

یادونه: دلته هم شاید څه تکرار وي، خو کله سرس تکرار ته هم اړ کیږي.

دا په دې پرېپوهېدنه، چې کړنویونه ټولګیز دي او باید ټولګیز شي.

دالاندې ټول هغه څه دي، چې که څېړلشوې وي، ځو ډېر ښه او که نه، نو دایې بنسټیزه لیکنه او پیل دی، چې نوره باید روښانه شی او روښانونه یې یې په ګرانو مینه والو لوستونکو او د ریښې خاوندانو باندې وي.

د پښتو په کړنو کې نه دا چې د کړنویونو بڼه بدلیږ، په پښتو کې د کړنویونو په بېلا بېلو وختونو کې نومځای نیوي هم بدلیږي او دا څنګه، په کوم ډول کړنویونو کې او څنګه؟

دا پوښتنې هم باید وڅېړل شي. داسې پیل کوو:

و لاندې ته یادونه: له دې فکر سره مخ شوم او ومې غوښتل له لتاسو سره یې ګډ کړم، چې یو له بل سره مو مرسته کړې وي. کېدی شي دا کار تاسو لا د مخه کړی وي. که مهالونه او نومونه یې را څخه سم ونه لیکل شو بخښنه دې وي او تاسو یې سم کړی، چې همدا له اوسه مو د مرستې مننه.

زه به دا ویونه داسې وبولم: دا هم د الماني په مرسته، خو د پښتو ژبلار لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – ناځواکمن کړنوییونه: هغه ویونه، چې خپل بنسټ ساتي او د وختونو سره بنه بدلوي، ناځواکمن کړنوییونه بلل کیږي.

۲ – ځواکمن کړنوییونه: هغه ویوونه چې پوره بنه نه ساتي او په یوه لار بنه بدلوي، خو ټوله بنه د ناځواکمن وییونو په څېر نه ساتي، خواکمن کړنوییونه بلل کیږي.

۳ – بې لار کړنوییونه: هغه ویونه، چې سوچ بوچ لار نه لري، بېلارې کړنوییونه بلل کیږي.

دا ټول وییونه دې ګران لوستونکي په ټولګیو د وېشلو وروسته سره ټولګیز ولیکې.

بېلګې:

بېلګه و ۱ – ته: درېدل:

اوسمهال: درېږم، درېږې، درېږي او نور

روان اوس مهال: درېدلی یم، درېدلی وې، درېدلی وو او نور

تېر مهال: درېدلی وم او نور

راتلونکی: وبه درېږم، وبه درېږې، وبه دریږي او نور

درېدم، درېدې، درېده او نور

بېلګه و ۲ ته: خوړل

اوسمهال: خورم، خورې، خوري.

روان مهال: خوړل مې. خوړل دې، خوړل یې، خوړل مو

اوس تېر مهال: ومې (ودې، ومو، ویې) خوړ، خواړه یا خوړل

تېر مهال: خوړلي مې(دې، مو، یې) وو.

راتلونکی: وبه یې خورم(خورو، خورې، خورئ، خوري).

پوښتنې ته په ځواب کې ؟: خوړلې مې (مو، دې، یې) دي(وو).

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه و ۳ ته: تلل:

اوس مهال:ځم، ځې، ځو، او نور

اوس مهال: لاړم، لاړو، لاړې، لاړی، لاړه، لاړل، لاړه، لاړې(لاړلې)

روان مهال یا څنګه مهال؟؟؟: اوس تېر مهال:تللم، تللو او همداسې نور.

تېر مهال: تللی وم ( وو، وې ... او نور)

راتلونکی مهال: لاړ به شم. او نور

-؟ تللی به وی.

دا پورته ګوره درې ډوله کړنویونه راغلي. دابايد ښه روښانه شي، چې داویونه څه بلل کيږي او دا ژبلاریز بدلونونه یې هم باید پوره وڅېړل شي. هغه بنسټ یې دا پورته دی.

په پورنه نومځاینیوو کې موږ ځانیز نومځاینیوي نه دي کارولې یا نه کاریږي او که څنګه؟. د دې ډول نومځاینییو لپاره دڅېړنې او بللو بل ځای شته. هغه ورته وګوری.

یادونه: دما د پښتو ژبلار د ښوونځې لپاره لیکنه کې کېدی شي دا نور ډولونه راغلي وي،او که نه، نو ورزیات به یې کړم او تاسو یې هم پوره کولی شئ.

## یوه بله ستونځه:

په پښتو ژبلار کې له یوې بلې ستونځې سره هم مخامخ شوم او هغه دا چې. ځنې خویویونه داسې انګېرل کیږي، چې ګوندې کړنوییونه دي، چې له تاسو سره یې ګډوم:

موږ خویویونه لرو او پوښتو، چې د دې خویویونو سره یو څه څنګه ابادوو:

خویویونه: سپین، رنګه، ښکلی، جګ، خراب، جوړ، ټیټ.

یوه څه ته خوي ورکړه څنګه کيږي؟

که یو څه غواړې ښکلی کړې، نو دا ښکلي کول دي. خویویی + کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو څه غواړې خراب کړې، نو دا خرابول دي. خویوي + -ول

خراب، خرابول او که خراب کول؟ نابلد خو په ژبلار برابر.، سپین، سپینول، که سپینکول، رنګ کول او که رنګول. ښاېسته او ښاېستول او که ښاېسته کوم، خو ښکلي ښکلي کول، چې ښکلویل ورسرهسم نه راخي او کهښه نه برېښي؟ نور دې ګران مینوال سره جوړ کړې.

یو نوم او یا شي ته یو خوي ورکول:

په ځنو خویویونو پسې ول زیاتیږي. داپه دې پرېپوهېدنه چې خوي وی + ول

او په ځنو پسې بیا کول ورزیاتې، دا په دې پرېپوهېدنه چې: خوي وی + کول

دا ځانګړنې دي او که باید یوې لار ته سره راوړل شي او ایا دې کې هم یوه لار شته او که توکلي همداسې دي.

رنګ کول

رنګول او رنګ کول.

ښکته کول، پورته کول

ټیټول جګول

دا هم فکر ته راځي، چې ګوندې دا به همغه لار وي، چې په ځنو ځایونو کې دا د کول ،، ک ،، نه لیکل کیږي، خو زه پرېکړه پرې نه شم کولی او مشوره مو غواړم.

له بلې خوا په پورته کې یو توپیر په دې کې شته، چې دا لومړی خویوی په ،،ه،، پایکیږي او دا بل بیا په ببغږیزه توري پای مومي. دا دې نو ګران ژبمینه وال سره و څېړي.

ډاکتر ماخان میړی شینواری

## د افغانستان د علومو اکادمي او پوهنتونو پښتو څانګو ته په درنښت!

د افغانستان د علومو اکادمي پښتو څانګې او د افغانستان د پوهنتونونو پښتو پوهنځیو ته له دې پرانستي لیک سره په ډېر درنښت داهیله لرم او د یوه سپینګیري په توګه هیله او سوال ورته کوم، چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که څه مو له لومړي پیل څخه په فکر ښه رانه غله، بیا هم دا یو ځل ولولې، تاسو خو به لږ ترلږه هد داسې فکر څخه ازاد شی.

- دا یا په دې ډول لیکنه راته په پښتو کې نوې برېښي، نو له دې امله هم د پام وړ باید وي او

– داسې فکر ونه کړي، چې دامیړی یو سرزوزی، یا لیونی او یا سپیینګری سړی دی چې د ژبې سره د مسلک له لورې سر او کار نه لري او بیا داسې لیکنې کوي او اوتې بوتې وایي نو دا د وخت تېرول دي او بس.

- ما لږ ترلږه په دې اخرو نږدې پنځلس کلونو شاوخوا په هر اړخیزه توګه د پښتو او په ځانګړې توګه د پښتو د ژبلار سره ځان ډېر بوخت ساتلی، نو بیا مې هم هیله د، چې

– دما دا لیکنه په ژوره توګه وګوری، لکه د یوه شاګرد لیکنې مو او ناسمونونه یې راته په ګوته کړی او که سمه مو ومیندله، نو هم دا نور بیا ستاسو د استادانو کار دې، چې سمون یې بیا څنګه ګوری او څه وړاندیزونه کوی.

لیکنه بیا ستاسو مخ ته ږدم:

## په پښتو ژبلار کې نوې میندنې او که....

یادونه: دا چې دا لیکنه مې د پوهنتون او علومو اکادمي په نامهلیکلې، تکرار به وي، خو ګومان مې دی، حه نوي به هم وي، خو بیا هم که تکرار وو، بیا لیدل یې هم کوم زیان نه لري.

پیل یادونه: ژبه پیداښت دی او څوک په پیداښت کې ګوتې نه شي وهلی او که دا کار وشي، نو هرومرو به ناسم وي. داپه دې ترذذذنېپوهېدنه، چې ما هم دلته له ځان څخه څه نه دي پیدا کړي یا جوړ کړي، هغه د پیداښت څخه راپیدا څه مې سره شنلي یا روښانه کړي، هیله ده چې سم به مې میندلي وي..

- هیله ده، چې ویې لولی، مرسته وکړی، د پښتو ژبلارې د ودې لپاره.

- په پوهنیزه څېړنه کې باید مخامخوالی(تضاد) نه وي، دا په دې پرېپوهېدنه چې باید رد نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن د ۲۰۲۱ ز کال د مارچ ۳۱ –م په درې بجو مې خوب کډه وکړه، د همغه خپل چرت له امله ، خو دژبې په هکله مې میندنې ( دما پهاد) وکړې، چې له دې امله ورته خوښ یم.

دا لیکنه په څو برخو وېشم او په لاندې توګه یې له تاسو سره ګډوم:

لومړی:  د ماپخوانی اند د ځنو اړیکووینو یا که غواړی، د ادپوزېشنونو په هکله

دویم: څنګه والي یا حالتونه

دریم: دا اوس مې ورته د دې لیکنې په هکله پام شوي نومځاینیوي، یا مرستندوي نومځاینیوي او یایې که هرڅه د بللو وړاندیز کوي. دا دوه برخې لري.

څلورم: پښتو- لږ تر لږه په داتیو حالت کې – یواځې پوستپوزېشنونه (پسې ځاینیوي) لري.

پنځم: له الماني، انګرېزي څخه مو د ادپوزېشنونو په پخوانی بنه ناسم پښتو ژباړلي دي

و لومړی ته: د ما پخوانی اند، چې دا ځنې ګډوله  اړیکویونه به ګوندې سنترپوزېشنونه وي:

له....څخه ( سره، کره)، په .... کې، پر...باندې، تر .... پورې، و ... ته او نور.  ګومان مې دا هم وو، چې ګوندې پښتو به مخ ـ پسې – سنتر ځای نیوي ولري. په دې هکله مې لیکنې شته.

دابه په لیکنه کې روښانه شي.

دویم ته:  څنګه والي یا حالتونه، چې لنډ یې بیا له تاسو سره ګډوم.

د پښتو څنګه والي، پېر یا حالت ته  د مشورې لپاره.

د الماني ژبلار په مټه یا مرسته دا څنګه والي (پېرونه،حالتونه) د پوښتنو په مرسته په لاندې توګه روښانوو: دلته یواځې د پوښتنو له  لارې.

۱ – نومیز څنګه والی:(څوک؟، چا؟ )، (څه؟)

۲ –  د خاوندوالي څنګه والی: ( د چا؟، د څه؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - داتیو ځنګه والی: ا - (له چا؟) ، ( له څه؟)،ب - (وچا؟)،(وڅه؟) پ – (په چا؟)، ( په څه؟)، ت - (پرچا؟)،( پرڅه؟)، ټ - (ترچا؟)، ترڅه؟) او نور.

دلته دې پام او خبرې پرې وشي، چې دا ځنګه ونوموو، یا نومول شوي( که وي) . دې نور کې -ګومان مې دی- ستونځې نه شته.

۴ – اکوزاتیو ځنګه والی: ( چا، څوک، څه)

ګورو، چې ۱ – او ۴ – یو ډول پوښتنویونه لري، ځو ۱ – د کړوني په ځنګه والي او ۴ – د پرېکړوني یا نه کړوني په ځنګه والي کې دی.

پوښتنغونډاله جوړوو:

څوک له چا سره د چا له کور څخه د چا وکور ته لاړ او په څه کې پر څه باندې څه یې د څه پرسر کېښنود؟

داسې یې ځوابوو یا روښانه کوو:

(سپین) «۱» (له تور)«۲» سره (د تور) «۳» (له کور)«۴» څخه (د ځلمې)«۵» (وکور) «۶»ته لاړ او (په کوټه)«۷» کې ( پرمېز ) «۸) باندې (کتاب)«۹» یې د چوکی ( پرسر)«۱۰» باندئ کېښنود.

د المانی ژبلار له مخې به «۱» نومیز، «۲»، «۳»،«۴»،«۵»، «۷»،«۶»،«۸»او«۱۰» داتیو، «۳»،«۵» واکوالي او «۹» اکوزاتیو حالتویونه یا پېرونه او که غواړی ځنګه والي دي.

که ټول سره مرسته وکړو او دا پورته سره همغږیز کړو، نو زما په اند به مو د پښتو ژبې یو څه ستونځې اوبی کړې وي.

یادونه: ما چې دا پورته د حالت لپاره ځنګه والی لیکلی، باور وکړی، چې دا حالت هم راته پېچلی برېښي، چې له عربي به سم وي او که نه؟

پرته له دې په دې پېر هم نه پوهېږم، چې دا به حالت ته وایې او که ځنګه؟ که دې کې هم هر ځنګه پرېکړه وي یا وه، نو یو کار به مو سرته رسولی وي. هیله ده چې اندونه سره ګډ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس راځو:

و دريم ته:  دا اوس مې ورته پام راګرځېدلی نومځاينيوي.

دا کوم دي؟ دا ،، را، در، ور،، دي او ،،مې، دې، يې،، ،  چې د کارونو يې بېلابېل ځايونه شته.

دا په دوه برخو وېشو

الف:  الف ۱ - مورږ په پښتو ژبه کې د خاوندوالي لپاره مرستندوي يا پوره او که هرڅنګه يې بولې نومځای نيوي لرو:

،،مې، دې، يې،،. د دې ،،يې،، نارينه، ښځينه او ډېر هم همداسې دي او د ،،مې، دې ،، لپاره وايو چې ،، مو،، . پوښتنه دا ده چې دا به د دواړو لپاره وي او که د يوه لپاره.

دا هم په دوه ډوله کارول کيږي

الف ۱ ۱ – که ووايو: کور مې( دې، يې) سپين دی، نو پوهيږو، چې دا د خاوندوالي نومځای نيوي دي او

الف ۱ ۲ – که ووايو: کتاب مې (دې، يې ) واخست، نو دلته دا بيا نوميز حالت دی. دلته بيا د کړوني په ځېر رامنځ ته کيږي. هيله ده، چې په دې هکله به هم کران مينه وال مرسته وکړي، زمورږ د خبرو لپاره ال۱ ۱ – غوره دئ.

توپير يې: په الف ۱ ۱ – کې د مې، دې ، يې پسې خويوی راځي يا کړنوی پسې نه راځي او په الف ۱ ۲ – پسې بيا کړنوی راځي، چې له دې څخه يې توپير کېدی شي.

الف ۲ – همداسې د داتيو لپاره هم دا لاندې نومځاينيوي لرو:

،،را، در، ور،،، چې ډېرګوني يې هم همداسې دي.

د دې لپاره به يې الماني او انګريزي اندول راوړو او وبه ګورو، چې دا هم همهغسې موخوردي.
ب – څنګه والي يا حالتونه، که غواړئ پېر.

ب ۱ – د خاوندوالي څنګه والی يا حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزي نومځاينيوي د خاوندوالي لباره

His yours my

الماني...........................

Sein dein mein

انډول پښتو يې د ساده يا نيم – يا خاوندوالي نومځای نيوو سره. دا اوس اوبليکوس حالت بولو.

مې دې يې

پښتو پوره يا ورسره بلد نومځای نيوي يا ځانيز نومځاينيوي

دما دتا دهغه... او نور ( زه زما، ستا نه ليکم، که څه هم په کلي کې يې داسې بولو، ځکه چې ،،د،، د خاوندوالي مورفېم دی او ټوليز دی).

يادونه ښځينه او ډېر يې په پام کې نه دي نيول شوي.

My(mein) house( Haus)

کور مې

دما کور

ب ۲ – د داتيو ښنګه والی يا حالت

را - ، در- ، ور - (څخه، سره، کره، باندې، لاندې، کې، پورې، ته، ...)

که الماني ته مو پام راوګرځوو، نو دا پورته اړيکويونه ټول د داتيو په ښنګه والي کې دي، چې په پښتو کې هم سر ورسره خوري.

له ما - ، له تا – له هغه (هغې) –( څخه، سره، کره) او

پر ما -، -تا-، - هغه( باندې او پورې)، په ما-، په تا- ، په هغه کې، تر ما- ،ترتا - ، تر هغه پورې، وتا- ، وما – ، و هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



( و....) په کندهارۍ ګړدود کې  په روښانه توګه شته

کور مې، - دې، - يې،

انګرېزي نومځري د  داتيو  لپاره

him    you    me

الماي نومځري د    لپاره

Ihm    dir    mir

پښتو نومځري د داتيو   لپاره

را    در    ور

دا پورته، مرستندوی(؟) نومځاينيوي د يو او ډېرو لپاره هم دي او تيک همهغه د الماني او انګرېزي په څېر د داتيو حالت ښايي او دا لاندې يې بل ډول دي.

له ما    له تا    له هغه او نور

د حالتونو څېړنې له مخې  پای لاس ته راځنه او ګومان مې دی، چې داپرېکړه- که راسره ومنل شوه – نوې وي .

څلورم: پښتو ژبه  لږ تر لږه د داتيو حالت کې يو اځې پسې ځای نيوي، پسې ايکويونه ياپوستپوزېشنونه لري.

څه پوهېږو، چې دا پوستپوزېشنونه دي؟

لکه لږ تر لږه زه په ې اند وم، چې

دا له.... (څخه، سره ...) او همداسې دا په... کې او پر...باندې، تر ... پورې او نور سنترپوزېشنونه دي، خو داسې نه دي؟

هغه اړيکويونه چې د  را، در، ور سره راځي، برېښي چې پوستپوزېشنونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا له، په، تر او نور نو بیا کوم ژبني توکي یا ژبني څه دي او همداسې خپلواکه ترېپیوهېدنه هم نه لري. دابه روښانه کړو. دا یواځې د یوه نومځري سره پرېپیوهېدنه لري یا یې په واک کې دي او بس.

که منلي مو وي، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دئ او له مې، دې، یې څخه همداسې برېښي، نو دلته هم دا ،، له، په، پر، تر... ، د داتیو حالت مورفېمونه دي او یا د ما، دتا، دهغه، ... سره یوځای داتیو حالت ورکوي.

بل لامل یې دا دئ، چې دا له او نور  په را، در، ور کې دننه یا خوندي دي.

یو څو بېلګې:

له ما( -تا،-هغه....) څخه ولاړ. را (در، ور) څخه ولاړ.

تر تا پورې درورسېد. درپورې در ورسېد.

یادونه: که دا سم وي، نو ګورو، چې تر موږ تل ناسم او زیات کاروو.

پنځم: له الماني، انګرېزي څخه مو د ادپوزېشنونو په پخوانۍ بنه ناسم پښتو ژباړلي دي یا لږ تر لږه ما، داچې دا له، په ، پر، و، تر نو په الماني او نګرېزي دا سې نه دي؟

ما تراوسه پورې داسې انګېرل:

۱ – له... څخه، یا ځانله له   vor; from

۲ – تر یا تر ...(پورې)   bis; until

غونډالې د ،، را،در، ور،، نومځاینیوو سره او ور څخه نوې روښانه ونه.

سپین په ۱۰ بجو درڅخه راړوان شو او په۱۲ بجو را پورۍ راورسېد

سپین په لسو بجو له تا څخه راروان شو او په ۱۲ بجو ترما  پورې راورسېد.

دا پورته ،، له تا،، د ،، در،، په ځای او ،، ترما،، د ،، را،، په ځای دئ، نو دا ،،له،، پرته له،،تا،، او ،، تر،، پرته له،،ما،، څخه کومه بله ترې پوهېدنه نه لرئ، دا په دې پرېپیوهېدنه چې بلواک دي، څخه او پورې اړیکویونه دي. بیا دا ،، له،، او ،، تر،، اړیکویونه نه دي، لکه تراوسه پورې مې یا ښایي چې اندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – په... کې    im, in

۴ – پر.... باندې یا پر    auf, of

۵ – و....ته    zu, to

۶ – له .. سره    mit, with

د Vor, bis, in, auf, zu لپاره د پښتو انډول دي:

څخه، پورې، کې، باندې، ته

یوه بېلګه: سپین راڅخه در روان شو او په لنډ وخت کې درپورې در رسیږي.

شپین له ما څخه و تا ته در روان شو او په لنډوخت کې به تر تاپورې ذرورسیږي.

دلته دې اړوند دې ته هم پام راواړول، درواړول، ورواړول شي، چې دلته لکه راغی، درغی، ور غي هم شته.

داد څېړلو خوندیونه راته پېچلې، خو له ردولو یا مخامخوالي راته ازاده یا خپلواکه برېښي.

بیا لنډ: که ،،له، تر، په، پر،، ، خپلواکه پرېپوهېدني نه لري او د د نومیز نومځاینیوو سره د نومیز حالت بدلول خوندي لري، چې دلته یې لاس ته راوړنه، د خاوندوالي او داتیو حالتونو څرګندونه ده، دا په دې ترېپوهېدنه، چې بیا: له دوي سره دا حلاتونه بدلیږي.

هیله ده، چې پر دې باندې به یو له بل سره ګرمې خبرې ولرو.

یادونه: دا لږتر لږه رد نه شو، نو بیا به دا ورسره لیکم، چې له تاسو په کې د ردولو څه نه وو یا منل شوی.ستونځې په کې شته، خو د ستونځوبیو لپاره هم په پیداښت کې پیداښت لارې ورکړي.

د تاسو د سرې سیني څخه ډېره مننه.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ولس ژبه، که -په پوهنه کې ورځنۍ شوې- پردۍ ژبه؟

موږ په ولس کې- داسې به ووایو چې – له پیداښتنه غونډاری او غونډوسکه لرو. داروښانه کوو، چې داڅه شی دي، لکه د نړۍ د نورو ژبوپه لکسیکونو کې چې روښانه شوي دي.

غونډاری:

یادونه: شمېرپوهنیز فرمولونه نه راوړو.

په څمککچپوهنه کې غونډاری د غونډارۍ هوارې او غونډارې تن یا بدن لپاره کارول شوی نوم دی.

---

-غونډاری یوه هواره لري. ګوډونه او کونجن نه لري او ناپای ډېر اړخونه اړخونه لري( د ګردیو کرښې).

- هغه خپل منځ ټکي ته سیومتریک ده همداسې محورسیومتریک، که محور له منځټکي تېر وي.

- د غونډاري لویه ګردۍ هغه هواره ده، چې د غونډاري له منځټکي تېریږي. د هغې ګردۍ نیمی د غونډاري نیمی ده او لویه ګردی غونډاری هم نیموي، نو غونډاري نیمۍ یې بولو.

- غونډاری د یوه تن په څېر سوچبوچ د غونډوسکې بڼه لري.

- کوچنۍ ګردۍ ټولې د غونډالي منځ کې هغه کردۍ دي، چې په غونډاري کې د لویې ګردۍ کوچنۍ دی.

- د غونډاري ټوټې یا غونډاري غوڅې شوې ټوټې هغه تنونه دي، چې د وېشنې له لارې د لوي او کوچنۍ ګردي د ټوټونې منځ کې پرتې دي.

- که د غونډارې ټوټه نیمه غونډاری وي، نو سړی د نیمغونډاري غږیږي.

- د غونډاري ډکی د هغې د هوا یا فضا منځپانګه پېژندل شوې، هغه چې د غونډاري د پاسهوارې لخوا رابنده ده.

بل غونډارې ته ورته بدن یا تن

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډوسکه.

غونډوسکه له څرمني یا له مصنوعي (نه پیداېښتي) موادو څخه یو ګرد، په ورسره بلده ډول غونډارېډوله، ایلاستیکي لوب اله یا سپورت اله ده، چې موږ به له رینجاړو جوړوله. د غونډوسکو په څنګ کې د کلکو موادو جوړ لوبغونداري هم شته، لکه لرګی یاوسپنه او نور.

د پېژند له مخې غونډاری او غونډوسکه ورته ځمککچیز تنونه دي، چې د لوبو بېلا بېل الات هم لري.

په ورسره بلده یا نورماله توګه غونډوسکې له هواډکو پوښونو ډکې وي، چې د پمپولو له لارې د یوه ټاکلي زور لاندې ډکیږي. ځانګړې یې د بېلګې په توګه د هاکي او د ګلف غونډوسکې دي.

---

دموږ موخه:

دموږ د ټولو پوهنېزو څانګو ټول مسلکي یا ریښه اړوند ویونه زیات یې عربي او ځني یې فارسي دي. په دې خبرې نه کړو، چې ولې. د ټولو هغو ویيونو، چې هغه په دغو پردیو ژبو کې پیداېښتي شتون ولري، هغه هرو مرو په پښتو کې هم شته دی.

که موږ – لکه په نورو ژبو کې چې شوی- خپل یو نوم یا یو څه څېړو، نو دا سې مخ ته ځو یا باید لاړ شو، لکه دا د نورو ژبو ویونکي.

موږ به یې دلته یواځې دوه بېلګې راوړو.

اوس مو موخه دا ده، چې دا نو ولې کرة وبولو او همداسې په ځمککچپوهنه کې دکري لپاره، چې بېرته همدا غونډوسکه ده یا غونډاری، غِونډوسکه یا غونډاری ونه لیکو. نور پوهنیز ویونه هم همداسې. موږ او تاسوخو به هم یو خت کې په لکسېکونونو کې دا خپل ویيونه او نومونه داسې په شننیزه توګه روښانه کوو، چې یو شی څه شی دی.

د غونډاري بېلګې: د نسوارو غونډاری، باغکې، دلوبو غونډاري هم شته، چې غورځولکیږي او یوې ټکلي موخې ته د نږدېکېدو سره یې کټونکی څرګندیږي یارروښانه کیو او که غواړئ معلومیږي. همداسې مردکی، چې موږ به غوزان په کټل او یا چورلټی چې له لرګي به جوړه وه.

د غونډوسکې بېلګې: د موږ د هیواد په پېلابېلو ځایونو کې د لویو لپاره کارولکیږي. په لرګي وهلکیږي، په دیوال یې ولي او نور. موږ به دا له رینجاړو جوړولې، یاښه یې په کور کې به راته میندو او نورو خپلوانو داسې ګردې ګنډلې. نورې بېلګې: د پښو غونډوسکه. د والیبال غونډوسکه او همداسې د هاکي او نورې د لوبو غونډوسکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا موږ هم دا د هاکي او جلف کرې وبولو؟

داپورته تنونه مو چې یاد کړل، دا ټول باید بیاکرة وبلل شي، چې د ولس لپاره دپوهېدنې لپاره به پوره ستونځمن او دلیک کسانو لپاره به پوره نابلد یا ترې تېرېدونکي وي، چې ګوندې داد ژبې غنا ده، خو دا د ژبې په خپلو ویونو ناتوانول دي، چې په پای کې باید له منځه لاړ شي.

خبره په ښه او بد کې نه ده، خبره په اړیینوالي کې ده.

دا به ښه برېښي، که ووایو، چې د غوزانو ګټلو کرة؟

د پښو لوبو کرة، چې عربي یې کرةالقدم دی.

یوه غونډوسکه چې د ،، باسکټبال،، لوبه پرې کیږي، د باسکټبال کرة وبولو یا کرة؟

او همداسې د غوزانګټلو مردکي په ځای د غوزانګټلو کرة ووایو یا ولیکو او یا د نسوارو کرة یا دانورې د لوبو کرې او که څنګه؟

اخرئ پوښتنه: ولس دې له دې پیداښت ورکړشوو نومونو څخه تېر شي او که دا د لیکلوست خاوندان دې، چې تراوسه – په خواشینئ باید ووایم – لا دومره ډېر هم نه دي او دا کار هم ورته ساده دئ، تېر شي؟

زه په دې اند یم، چې دا راته هرڅه ساده کوي، خو پوهیږم، چې له زده کړو څه څخه تېرېدل هم پوره ستنونځمن دي.

که چېرې دا کار - چې باید له ښونځیو پیل شي- کېده نو هرو مرو به پنځه کاله وخت ونیسي، چې په هغو کې دواړه نومونه وکارول شي او بیا نو پښتو نومونه پاتې شي.

ستاسو د سټریکېدو بخښنه به راته کړئ.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میرزي شینواري کتابونو یا وته کتنه

د ډاکتر ماخان شینواري پوهنیز کارونه، ځانګړي دي، دا په دې مانا چې د نورو پښتو لیکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپیر لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شینواري نږدې څلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې ریښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ویونو په ځای یا یې نوره هم ښه د مسلکي نومونو اندول پښتو ویونه لیکلي.( دا اندول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

۲ – په درې کتابونو کې یې فزیک هم په پښتو لیکلی، دا په دې مانا، چې پوهنیز او مسلکي ویونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دی.

۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو لیکوالانو د لیکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نوموړی په کې تراوسه ځانله دی، لکه په دې نورو لیکنو کې هم. ملامتي به د نومړي وي، خو وایي، چې کړنې یې د ژبلار سره سمې او سم اندیزې دي.

که ژبسمون، چې بیا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دی، هغه ویونه د څېړنې لاندې نیولي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

۴-دوه کتابونه ۴ ۱ – پښتو ژبلار د ښوونځې لپاره به په لنډ وخت کې خوره او

۴ ۲ – د ژبې په چوپړ کې به هم لنډو ورځو کې ستاسو لوستلو ته وړاندې شي.

زما زیاتې لیکنې له پخوا په ټول افغان او اوس همداسې هغه زیات یې د تاند په خپرونه او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

او کتابونه په کتابتون.کوم کې خوریږي، چې هلته یې بیا د کتاب په بڼه لوستلی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخام مېږي لیکنې او ژباړې

د ډاکتر ماخان شینواري چاپ او ناچاپ لیکنې، چې هغه زیاته برخه یې له
ketabton.com څخه خواره شوې:

<u>:(Vienna (Austria 1988</u>

<u>لومړی:</u>

topological Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact .H.K
Page 117 – 122 ; general algebra 6 algebra : contributions to

<u>:(Vienna (Austria 1987</u>

<u>دویم:</u>

لومړی-und Aproximation durch Polynime in Universalen Interpolation
Diss . Uni. Wien . Algebren

دویم-*and Aproximation by Polynome in universal Interpolation*
*the University of Vienna/Austria Dissertation at ,Algebras*

لاندې د شمیرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له
خوا چاپ شوي دي
<u>:(Bonn (Germany 2000</u>

دریم: د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ،
همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې
لیکنه به یې څنو ځایونو غزېدلې او څنې ځایونه ترې لرې شوي دي)
<u>:(Bonn (Germany 2003</u>

څلورم: ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شمیرنه، د ګڼې – او کڼې د کڼې
شمیرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي
<u>:(Bonn (Germany 2003</u>

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



:(Bonn (Germany 2003

شپږم: د شمیرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

اووم: د شمیرپوهنې الماني ـ پښتو ـ او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*dictionary German/ Pashto and Pashto/German Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

اتم: دفرنځیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی) ( ketabton:com ته پورته شوی)

*equation Translation; An Introduction Differential*
Germany): 2003) Bonn

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه
*Formulas Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

:(Bonn (Germany 1997

یوولسم: د افغانستان په هکله سپینې خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلې.

ژباړې او نورې لیکنې:

*: (Brinkmann. (From Brinkmann.du.de .Prof*

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج ځخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموینې له پاره ګټور دي.

دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځلسم - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ۱ ( ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ۲( ketabton:com ته پورته شوی)

نولسم – کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

شلم - د شمیرپوهنې بنسټونه ( ketabton:com ته پورته شوی)

یوېشتم - د فرمولونو ټولګه( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ویشتم – فنکشنل انالیز( ketabton:com ته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه ( ketabton:com ته پورته شوی)

نورې ژباړې

څلرویشتم – له www/grundstudium.info/linearealgebra. څخه:کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځویشتم – Georg Gutenbrunner ګنونپوهنه یا د اعدادو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ليکنې
:(Germany) Bonn

شپږويشتم - د شميرپوهنې ستر کتاب دويم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغيراتو سره : دا کتاب د شميرپوهنې برخې برسيره د انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتيا سره زياتونه او کونه راغلي ( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه ويشتم- د شميرپوهنې ستر کتاب دويمه برخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

اته ويشتم - څمکګچپوهنه ( هندسه) دويم چاپ د پوره تغيراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

نه ويشتم – الجبر بنسټونه دويم چاپ له تغيراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

دېرشم - ډېرۍ پوهنه يا سټ تيوري ( ketabton:com ته پورته شوی)

يودېرشم – د شميرپوهنې سم اند ( منطق رياضي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه دېرشم - د يو څو شميرپوهانو ژوندليک( ketabton:com ته پورته شوی)

دريدېرشم – د شمير پوهنې ګډې وډې ليکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو ليکونکی يې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتيګرال شميرنو ته تمرينونه او اوبيونې يا حلونه يې( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه دېرشم – د شميرپوهنې انګريزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شميرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شميرپوهنې پښتو ډکشنري د شميرپوهنيزو ويېونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:com ته پورته شوی)

اته دېرشم - د زړه له کومې( دا هغه ليکنې دي، چې ځنې يې په نړيول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپينې خبرې، چې وبه غزيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلوېښتم– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپرېږي: د ګروپونو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي) او دالاندې د برینکن څخه راژباړلي

یوڅلوېشتم - فزیک لومړیبرخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه څلوېښتم – فزیک دویمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:com ته پورته شوی)

درېڅلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب یوې برخې ناسمونونو ته ګوته نیول شوې او ناسمونونه بیا سم شوي هم دي.( ketabton:com ته پورته شوی)

څلورڅلوېښتم – د فزیک کوچنۍ ویونو دکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه څلوېشتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.( ketabton.com ته پورته شوی)

شپږڅلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ویونه، چې سم شوي دي) ( ketabton.com ته پورته شوی)

اوه څلوېښتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰ همدا کتاب ( ketabton.com ته پورته شوی)

اته څلوېشتم – ژبسمون ( که غواړې دویم غزېدلې لیکنه) : له پخوانۍ لیکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.( ketabton.com ته پورته شوی)

تازه لیکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دي پورته شوي او دا د ځانله لیکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خورېږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ویونه څېړل شوي ناسمونونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوته نیول شوي او په دلایلو روښانه .شوي، چې ژبمینوالو لهپارهیې لوسته او ګوتنیونه اړیینه ده.

نهه څلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰( ketabton.com ته پورته شوی)

پنځوسم – ژبې مري او نورې لیکنې ۲۰۲۰ ( ketabton.com ته پورته شوی)

دا اوس خورنې ته چمتو: هیله ده چې کتابتون.کوم ( ketabton.com ته پورته شوی) کې یې وکتلی شئ

یوپنځوسم- پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره. همدا کتاب

دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میرِي شينواري ژوند ته يوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل يې نوم ،،ميرِی،، وو. د رحمابابا ليسه کې نوملیکلو وروسته په ماخان باندې بدل شو)

د کورنۍ نوم : شينواری

د پلار نوم: اروابښاد نورالرحمان

د مور نوم: اروابښاده پستو

د نيکه نوم: اروابښاد حسن خان

د نيا نوم: اروابښاده صبره بي بي

دزیږېدو کال: ډاکتر ماخان شينواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زیږېدلی دئ ( دا خو هغه رسمي ز ک دئ. سمه نیټه یې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې بايد وي، خو تره مې وايي ۱۳۲۰ ه ک دئ)

د زیږېدو ځای: ننګرهار د شينوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې کلي کې زیږېدلی.

د مورګۍ غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه له قرانکريم تر پنجکتاب، خلاصه، مونيه، ګلستان پورې، چې دا مو بيا په ښوونځې هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کليوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګۍ لومړني ښونځي، چې دی يې هم د لومړنيو زدکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بيا له دريم تر ۱۲ ټولګې پورې له ۱۹۵۴ تر۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا ليسه کې له دريم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګې اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر مياشت د ښوونځي برس له لارې اتريش ويانا ته تګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا ښه یې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترئ په اخستلو بریالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ دمارچ لومړئ نېټې څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوريت سفارت کې د سفير دندې د شارژد افير( صفر نه وو) د نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمني کې سیاسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداپښتې پوهنو څانګه کې دنده.

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د رياضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شینواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۱۹ ۹۷ څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

ماخان میرړي په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرئ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ویانا ته ورغلی.

ده د میرمن ښاپیرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې څانګه او اباسین نومیږي. څانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې.

ډاکتر شینواري ته د پوهنیزو هلو ځلو له امله ستاینلیکونه:

۱ ــ د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ ــ د افغانستان کلتوري ټولنه کولن میشنیش. جرمني

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**